دا کتاب له رحماني کتابتون څخه ډانلوډ شوی . او هو د نورو غوره
او نویو PDF کتابونو لپاره رحماني کتابتون در سره وڅارئ .

زموږ د ټلیګرام چینل لینک
https://t.me/paktekawalafghan/7

زموږ فیسبوک پاڼه
PaktekawalAfghan


اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته
نن یوه وړه غوښتنه د کتابتونونو له مدیرانو او مالکانو نه کوم ،
هغه دا چي په کتاب کې د یو څو لایکونو او مشهورتیا په
په خاطر زموږ لوګو او نوم له کتاب نه مه ﴿ حذف ﴾ کوئ .
او نه هم د دي کار اجازه شته .! 💯
موږ دا کتابونه خاص د الله ﷻ د رضا لپاره PDF کوو بس .!
او دا کار چي تاسو يې کوئ ډېر غټه ګناه ده .! 🥹💯
په درنښت ﴿ paktekawalAfghan ﴾

به دې کتاب کې؛

(د شخصیت جوړونې، د خوښۍ پرمهال شکر، له سختو حالاتو سره د مبارزې، له هغو څخه د راوتلو تخنیکونه او طریقې، صبر او زغم، د خبرو کولو مهارت، د مسؤلیت احساس، طبیعي لېوالتیا، بُخل او سخاوت، خیرکتیا، علمي کچه، د نوښت ورتیاوې، مینه او کرکه، حرص او قناعت، وېره او دېته ورته گټور موضوعات) څېړل شوي او گټورې لارښوونې او پیغامونه پکې بیان شوي دي.

دا کتاب له رحماني کتابتون څخه ډاونلوډ شوی . او هو د نورو غوره او نویو PDF کتابونو لپاره رحماني کتابتون درسره وڅارئ .

زموږ د ټلیګرام چینل لینک
https://t.me/paktekawalafghan/7

زموږ فیسبوک پاڼه
PaktekawalAfghan

# شخصیت مې جوړوم!

لیکوال:

**محمد مبشر نذیر**

ژباړن:

**لعل الدین عاطف**

۱۴۰۳هـ . ش / 2025م

سلام
Salam
خپرندویه ټولنه
۱۳۹۰

# کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** شخصیت مې جوړوم!

**لیکوال:** محمد مبشر نذیر

**ژباړن:** لعل الدین عاطف

**ډیزاین:** عبدالهادي اثر

**چاپشمېر:** (۱۰۰۰) ټوکه

**چاپکال:** ۱۴۰۳ هـ . ش/ 2025م

**خپرندوی:** سلام خپرندویه ټولنه – جلال آباد



**د چاپ حقوق له خپرندویه ټولنې سره خوندي دي!**



**د ترلاسه کولو ځایونه:**

**سلام کتابپلورنځی:** اسحاقزی مارکېټ، لاندیني پوړ، لومړی دوکان، جلال اباد. اړیکشمېرې:
۰۷۹۰۲۰۶۲۶۱/۰۷۸۷۷۱۴۹۵۶/۰۷۷۶۵۰۴۸۴۸

**نوی مستقبل خپرندویه ټولنه:** جوي شیر د خپرندویه ټولنو او کتاب پلورنځیو عمومي مرکز. ۰۷۸۸۲۲۰۵۳۰

**اکسوس کتابپلورنځی:** کابل ښار، دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ. ۰۷۹۸۹۸۹۶۹۶

**ژوندون کتابپلورنځي:** خوست، ۰۷۷۹۸۸۰۲۷۰

مجاهد کتابپلورنځي، پکتیکا. ۰۷۷۲۲۸۸۹۹۳

دا کتاب ﴿ شخصیت مې جوړوم ! ﴾ د رحماني کتابتون
لخوا ټولو مسلمانو ورونو او خویندو ته دې ډالۍ وي .!

او ما پکتیکاوال افغان هم په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد ساتئ.!




دا کتاب له رحماني کتابتون څخه ډانلوډ شوی . او هو د نورو غوره
او نویو PDF کتابونو لپاره رحماني کتابتون در سره وڅارئ .

زموږ د ټلیګرام چینل لینک 👇🏿
https://t.me/paktekawalafghan/7

زموږ فیسبوک پاڼه 👇🏿
PaktekawalAfghan

# لیکلړ


زما خبرې ........................................ ۱
ځیرکتیا ........................................ ۱۱
ذهني بلوغ ........................................ ۱۴
علمي کچه ........................................ ۱۶
د فکر ډول او فکري مکتب ........................................ ۱۷
طبیعي لېوالتیا ........................................ ۲۱
د مسؤلیت احساس ........................................ ۲۹
ارادي قوت او پر ځان باور ........................................ ۳۱
زړورتیا ........................................ ۳۳
انصاف خوښونه ........................................ ۳۶
له بریا سره لېوالتیا ........................................ ۴۰
بُخل او سخاوت ........................................ ۴۱

حرص او قناعت ........................ ۴۳
عادتونه ........................................ ۴۵
د کسب او مسلک مهارت ........................ ۴۷
جنسي لېوالتيا ........................................ ۴۸
غوسه ........................................ ۵۳
ناهيلي ........................................ ۵۶
خوښي او خپګان ........................................ ۵۷
مينه او کرکه ........................................ ۵۹
اخلاص ........................................ ۶۴
وېره ........................................ ۶۶
حيرانتيا او لټون ........................................ ۶۸
لومړيتوبونه ........................................ ۷۰
د زغم ځواک ........................................ ۷۲
صبر او شکر ........................................ ۷۴
ټيمي روحيه ........................................ ۷۷
پر ځان يا نورو انحصار ........................................ ۸۰
ځان غوښتنه ........................................ ۸۲
د رهبرۍ وړتياوې ........................................ ۸۴
خپلوي ........................................ ۸۷
د قانون رعايتول ........................................ ۹۱
ظاهري بڼه او بدني روغتيا ........................................ ۹۵
چُستي (Agility) ........................................ ۹۸

قرباني ........................................................ ۹۹
د برترۍ او د کمترۍ احساس ........................................ ۱۰۱
ښه اخلاق ........................................................ ۱۰۴
په خبره پوهېدل .................................................. ۱۰۶
افراط ........................................................... ۱۰۸
د اړيکو وړتياوې ................................................. ۱۰۹
د خطرونو په اړه چلند ............................................. ۱۱۰
خوښېدل او نه خوښېدل ............................................ ۱۱۲
د احساساتو د څرګندولو طريقه ..................................... ۱۱۴
غيبت ............................................................ ۱۱۵
جذبه او ولوله ..................................................... ۱۱۶
له ځانه خبرتيا .................................................... ۱۱۷

# زما خبرې

څرنگه چې ټولنې له بېلابېلو اشخاصو رامنځته شوې دي او په هغو کې د عادتونو، وړتیاوو او بېلابېلو ځانگړنو له مخې مختلف وگړي ژوند کوي او هر یو یې د همدې وړتیاوو او ځانگړنو له مخې په ټولنه کې خپل رول ادا کوي.

همداراز ټول انسانان د قوت او ضعف ټکي لري؛ په دېوو کې هغه کسان ډېره وده کوي او شخصیتونه یې غوړېږي چې د ضعف او منفي ټکو په راکمولو کار کوي او شپه او ورځ په دې لټه کې وي چې دغه منفي ټکي په مثبتو ټکو بدل کړي او په ټولنه کې له یوه ځلانده شخصیت څخه برخمن شي.

همداراز دوی هڅه کوي چې مثبت او د قوت ټکي یې نور هم پیاوړي کړي او په خپله ټولنه کې یو اغېزناک شخصیت واوسي.

د دې برعکس ځینې داسې کسان هم شته چې د خپلو منفي ټکو د راکمولو او ختمولو په فکر کې نه دي یا تر اوسه له داسې لارښود او

ملګري څخه نه دي برخمن شوي، چې له هغو سره د دې منفي ټکو په لمنځه وړلو کې کار وکړي، همدا لامل دی چې په ټولنه کې له ښه نوم او مقام څخه نه برخمنیږي او ورځ تر بلې له مثبتو ټولنیزو چارو څخه لرې کیږي او په یوه ډول ځان، کورنۍ او ټولنې ته زیان لرونکي تماميږي.

دا کتاب «***شخصیت مې جوړوم!***» له همدې وګړو سره د مرستې او لارښوونې لپاره لیکل شوی، چې لیکوال په ډېره روانه او زموږ له ټولنې سره په برابره لهجه لیکلی دی.

په دې کتاب کې د شخصیت جوړونې زیاتره مهم اړخونه څېړل شوي او زموږ د ټولنې وګړو ته ګټورې لارښوونې او پیغامونه پکې بیان شوي دي.

راښيي چې باید د خوښۍ پر مهال له کنټروله ونه وځو، شکر ادا کړو او د خوښۍ د نمانځنې داسې طریقه اختیار نه کړو چې د ټولنې اصول پکې مات شي او زموږ شخصیت ورسره داغجن شي.

همداراز له سختو حالاتو سره د مبارزې، له هغو څخه د راوتلو تخنیکونه او طریقې راښيي او د صبر او زغم سپارښتنه راته کوي. ترڅنګ يې د شخصیت نور مهم اړخونه لکه د خبرو کولو مهارت، د مسؤلیت احساس، طبیعي لېوالتیا، بُخل او سخاوت، څیرکتیا، علمي کچه، د نوښت وړتیاوې، مینه او کرکه، حرص او قناعت، وېره او دې ته ورته ګټور موضوعات په تفصیل سره بیان شوي دي، چې په لوستلو یې درانه لوستونکي په خپلو ځانونو کې مثبت بدلون

راوستلی او خپل شخصیت ورباندې جوړولی شي.
دا چې انسانان د هغو د شخصیت او ځانګړنو له لارې پېژندل کېږي او د همدې ځانګړنو پر اساس د نورو خلکو په ذهنونو کې ځای جوړوي، نو که موږ د خپل شخصیت جوړولو ته پام ونه کړو او په سمونه کې يې زیار ونه ګالو، نو د نورو په ذهنونو کې به مو د ځان په اړه ناوړه انځور جوړ کړی وي، چې دا چاره په ټولنه کې زموږ عزت او مقام راټیټوي.
د همدې ستونزې د راکمولو او له قدرمنو لوستونکو سره د اغېزناک شخصیت د رامنځته کولو په برخه کې د مرستې لپاره مې د دې کتاب د ژباړلو هوډ وکړ، چې له نېکه‌مرغه په خوږه پښتو ستاسو تر لاسونو دررسېد.
خپلو خلکو او ټولنې ته د خیر رسونې په دې چاره کې د لوی رب ډېر شکرګزار یم او د لا ډېر توفیق دعا ورنه غواړم.
د سلام خپرندویه ټولنې له مشرتابه او ټولو مسؤلینو د زړه له تله مننه کوم چې دا اغېزناک کتاب يې د چاپ په ګاڼه سینګار کړ او ستاسو درنو لوستونکو مطالعې يې ته چمتو کړ. هیله ده په خوند يې مطالعه کړئ.

**په درناوي**

**لعل الدین عاطف**

په ارواپوهنه کې د شخصیت مطالعه یوه په زړه پورې موضوع ده. د شخصیت جامع او ټولمنلی تعریف کول سخت کار دی.
موږ په ساده الفاظو کې دا ویلی شو چې د یوه انسان شخصیت د هغه د ظاهري او باطني، اکتسابي او نااکتسابي ځانګړنو ټولګه ده.
که څوک راڅخه وپوښتي چې د ملګري شخصیت دې څه ډول دی؟ نو په ځواب کې یې سملاسي د هغه څو ځانګړنې يادوو، چې هغه زیارکښ، د وخت پابند، ځیرک او مخلص دی.
له دېوو څخه زیاتره ځانګړنې خپلواکې دي؛ خو د اوږدې مودې پر مهال پکې بدلونونه هم رامنځته کیږي او د همدې ځانګړنو پر بنسټ یو شخص له بل څخه متفاوت تر سترګو کیږي او په هر کار کې له نورو څخه بېل چلند او کړنې څرګندوي.
که د یو چا شخصیت په سمه توګه وپېژندل شي، نو اټکل کېدای شي چې دا شخص به په ځانګړي حالت کې څه کوي. له دېوو

څخه ځینې ځانګړنې له لندمهاله حالاتو څخه هم رامنځته کېږي.
د ارواپوهنې په څېر شخصیت جوړونه هم د دین مهمه موضوع ده. الله تعالی چې د نبیانو په وسیله کومې لارښوونې دنیا ته رالېږلې دي، اساسي موخه یې د انسان د شخصیت پاکوالی دی. دا د نفس پاکوالی یا تزکیه نفس بلل کېږي. لکه الله تعالی چې فرمایي:
**﴿هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ﴾** (الجمعه: ۲)
ژباړه: «دغه (الله) همغه ذات دی چې امیانو ته یې له همدوی څخه یو رسول لېږلی دی، چې دوی ته د هغه (الله) ایتونه تلاوت کوي او د دوی تزکیه کوي او دوی ته کتاب او حکمت (سنت) ښیي.
په اساسي توګه د انسان دا ځانګړنې دوه ډوله دي:
یو هغه دي چې په مستقیم ډول د الله تعالی لخوا ورکړل شوې دي. دېوو ته طبیعي یا غیر اکتسابي ځانګړنې ویل کېږي.
دویم هغه ځانګړنې دي چې انسان یې په ځان کې یا پخپله پیدا کولای شي یا په خپلو طبیعي ځانګړنو کې د ځینو بدلونونو په راوستلو هغه ترلاسه کولای شي یا یې د چاپېریال له امله رامنځته شوې وي. دېوو ته اکتسابي ځانګړنې ویل کېږي.
په طبیعي ځانګړنو کې زموږ رنګ، نسل، شکل او څېره، بدني جوړښت، ذهني وړتیاوې او نورې شاملې دي. په اکتسابي ځانګړنو کې د انسان علمي کچه، مسلک، فکر او نور شامل دي.
شخصیت جوړونه د دې دواړو ډولونو ځانګړنې تر مناسب حد

پورې پراخولو ته وايي.
انسان ته په کار ده چې د خپل شخصیت د جذاب کولو لپاره خپلو طبیعي ځانګړنو ته په پراختیا ورکولو هغه مناسبې کچې ته ورسوي او د اکتسابي ځانګړنو د رغولو عمل ته هم دوام ورکړي.
د شخصیت په اړه زموږ په اند تر ټولو لوی، غوره او الګو د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم شخصیت دی. د غوره ځانګړنو دومره ښکلی ترکیب په نورو شخصیتونو کې نشته.
هغه صلی الله علیه وسلم د انسان په حیث دومره فوق العاده شخصیت لري، چې مخالفینو یې هم په ستروالي اعتراف کړی دی.
د معاصرې دورې متعصبو غربي مفکرینو هم د هغه صلی الله علیه وسلم د شخصیت ستروالی په ښکاره الفاظو کې بیان کړی دی.
په قرآن کریم او صحیح احادیثو کې موږ ته د پخوانیو انبیاوو علیهم السلام د شخصیتونو ډېر غوره اړخونه په لاس راځي؛ خو په دې ټولو کې ستونزه دا ده چې د هغو په اړه سمو معلوماتو ته ډېر کم لاسرسی دی.
دا ځانګړنه یوازې محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم لري، چې د پاک سیرت تفصیلي ثبت یې له موږ سره موجود دی. د هغه صلی الله علیه السلام تر روزنې لاندې په صحابه رضي الله عنهم کې هم موږ ته د لوړ شخصیت ځانګړنې د فضیلت په درجه لاسته راځي.
همدا لامل دی چې زموږ په دې لیکلنه کې به ځای ځای د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو د سیرت په اړه له

حوالو سره مخ شئ.

د انسان شخصیت دوه اړخونه لري. یو یې ظاهر او بل یې باطن. د انسان ظاهر هغه دی چې نورو خلکو ته ښکاري.

په دې کې د هغه ظاهري ورته‌والی او چلندونه شامل دي. په باطن کې د انسان عقل، علم، جذبات، احساسات او لېوالتیاوې شاملې دي.

په عامه توګه د انسانانو ظاهر د هغه د باطن انځور دی، البته ځینې خلک په لنډمهاله توګه پر خپل باطن د پردې په اچولو کې بریالي کېږي.

څرنګه چې پورته بیان شوه، له هغو څخه ځینې ځانګړنې خپلواک ډول لري او ځینې لنډمهاله ډول لري.

د انسان خپلواکې ځانګړنې هغه دي چې په اوږد مهال کې ارتقا کوي او بدلونونه پکې ډېر ورو رامنځته کېږي. دا ځانګړنې له انسان سره ټول عمر پاتې کېږي.

مثلاً د انسان علمي او عقلي کچه په یوه اوږده موده کې لوړېږي او د بدلون سرعت پکې په کلونو کې اندازه کېږي.

د دې برعکس د انسان خوښي یا خپګان یو لنډمهاله کیفیت دی، چې تر لږې مودې وروسته بدلېږي.

دا شونې ده چې یو شخص پنځه بجې خوشاله وي؛ خو پنځه نیمې بجې د کومې خبرې له امله خپه شوی وي. د انسان خپلواکې ځانګړنې د هغه پر لنډمهاله کیفیتونو اغېز ښندي.

که انسان په خپلو لنډمهالو کیفیتونو کې هم یو ځانګړی چلند غوره کړي، نو دا هم د هغه د شخصیت برخه ګرځي.
د بېلګې په توګه که یو کس په هره خبره غوسه کېږي، نو ټول خلک د هغه د شخصیت په تصور کې د هغه غوسه‌ناکتوب شاملوي.
لاندې مو د انسان د شخصیت د دې دواړو اړخونو د تفصیلي ځانګړنو یو نیمګړی نوملړ ورکړی دی.
تاسو پکې د لا ډېر فکر په کولو زیاتونه کولای شئ.

| | | |
|---|---|---|
| ځیرکتیا | د مسؤلیت احساس | د خبرو مهارت |
| د زغم قوت | د قانون مراعاتول | جنسي احساس |
| ذهني پوخوالی | ارادي قوت او | د شاوخوا شیانو په |
| صبر او شکر | پرځان باور | اړه چلند |
| علمي کچه | ظاهري بڼه او | غوسه |
| ټیمي مهارت | ورته‌والی او بدني | د خطرونو په اړه |
| پر ځان یا نورو | روغتیا | چلند |
| انحصار | زړورتیا | د ناهیلۍ او |
| د فکر طرز او | چُستوالی | اندېښنې په صورت |
| فکري مکتب | انصاف خوښونه | کې چلند |
| ځان غوښتنه | سرښندنه | خوښول او نه |
| طبیعي لېوالتیا | د برې لېوالتیا | خوښول |
| د رهبرۍ وړتیاوې | د برترۍ یا کمترۍ | د احساساتو د |
| د نوښت وړتیاوې | احساس | څرګندولو طریقه |

| | | |
|---|---|---|
| پیاوړتیا | بُخل او سخاوت | مینه او کرکه |
| عادتونه | ښه اخلاق | غیبت |
| تونډلاري | حرص او قناعت | اخلاص |
| خوښي او غم | په معامله پوهېدل | وېره |
| | مسلکي مهارت | حیرانتیا او لټون |
| | جذبه او ولوله | غوره‌والی |

کله چې غمی له کان څخه راوېستل کېږي، نو یوازې د تیږې یوه ټوټه وي.

یو ماهر زرګر یې تراشـي او په ډېر قیمتي لعل یې بدلوي. د انسان شخصیت هم همداسې دی، هر څومره چې ښه وتراشل شـي، غوره او قیمتي شخصیت ترې جوړېږي.

یوازینی توپیر یې دا دی چې غمي ته د زرګر په لاسونو هغسې ښه ورکول کېږي، چې څه ډول یې زرګر غواړي، حال دا چې انسان یو ژوندی مخلوق دی.

د هغه د شخصیت تراشونکي مورو‌پلار، ښوونکي او ملګري په خپله خوښه کومه ښه نه شـي ورکولی، بلکې په دې کې تر ټولو مهم شی د هغه خپل چمتووالی هم دی.

که کوم شخص په هغه چوکاټ کې ځان راوستل نه غواړي چې مورو‌پلار، ښوونکي یا ملګري پکې ځان راوستل غواړي، نو د نړۍ هیڅ ځواک یې دې کار ته نه شـي مجبورولی.

هو؛ داسې حتمن کېږي چې په زور هغه له کوم کار څخه ایسار شي؛ خو په پټه یې له دې کاره په ایسارولو مخه نه شي نیول کېدای. د انسان خپلواکې ځانګړنې څه ډول وتراشل شي؟ په دېوو کې څه شی وتراشل شي چې په پایله کې یې د شخصیت یوه غوره بېلګه شي؟ د دې خبرې تفصیل په دې لیکنه کې وړاندې شوی دی.

د دې لیکنې زیاتره برخې د امین احسن اصلاحي له کتاب «تزکیه نفس» څخه راخیستل شوې دي.

# ځیرکتیا

ځیرکتیا داسې شی دی چې انسان ته یوازې او یوازې د الله تعالی لخوا ورکړل شوې وي.
انسان پکې تر یوه بریده زیاتونه کولای شي یا به داسې ویل مناسب وي چې کارول یې غوره گرځول کېدای شي.
د یوې عامې ذهني کچې انسانان ځیرک کېدای نه شي؛ خو هغوی ته چې دا شتمني تر کومه بریده ورکول شوې ده، په ښه توگه ترې گټه اخیستل کېدای شي.
د ځیرکتیا په اړه ځینې ناسم تصورونه هم موندل کېږي، چې پر اساس یې دا گڼل کېږي چې دا میراثي شی دی یا دا چې نارینه تر ښځینه‌وو، لوستي تر نالوستو، شتمن تر بېوزلو، ښاریان تر کلیوالو، لوړ گڼل کېدونکي شخصیتونه تر ټیټ گڼل کېدونکو شخصیتونو، سپین پوستي تر تورپوستو او غربیان تر شرقیانو ډېر ځیرک دي، دا تصور سم نه دی.

په اصل کې نارینه‌وو، لوستو، شتمنو، ښاریانو، لوړ ګټل کېدونکو شخصیتونو، سپین پوستو او غربیانو ته په دنیا کې د خپلو وړتیاوو د ځرګندولو ډېر فرصتونه په لاس ورځي، چې له امله یې وړتیاوې لا ډېرې ځرګندېږي.

چېرته چې ښځو، بېوزلو او نورو قشرونو ته د خپلو وړتیاوو د ځرګندولو فرصت په لاس ورغلی دی، د هغوی ځیرکتیا راښکاره شوې ده.

د خپلې ځیرکتیا د معلومولو لپاره په دنیا کې اندازه ګیري دود ده چې د (IQ-Intelligence Quotient) ازمېښت ورته ویل کېږي.

په انټرنېټ کې داسې ډېر ازمېښتونه شته چې په وسیله یې تر یوه بریده خپله ځیرکتیا معلومېدای شي. له ځیرکتیا ځخه د ګټې اخیستنې لپاره ځو کړنلارې شته.

له هغو ځخه یوه دا ده چې خپله علمي کچه لوړه شي.

د علم ترڅنګ ځیرکتیا هم ورسره لوړېدای شي. د ذهني وړتیاوو د پراختیا لپاره ډېرې لوبې هم رامنځته شوې دي، چې د خپل عمر او لېوالتیا مطابق مناسبې لوبې کېږي او دا وړتیاوې رغول کېدای شي.

له لرغونې دورې راهیسې زده کوونکو ته د منطق تمروینونه ورکول کېدل او د هغوی د ځیرکتیا کچه ورباندې لوړېده.

په اوسنۍ دوره کې هم د تطبیقي ریاضي مضمون د همدې موخې لپاره لوستل کېږي.

موروپلار او ښوونکو ته په کار دي چې د خپلو روزل کېدونکو کسانو د ځیرکتیا د زیاتولو لپاره هغوی داسې لوبو او مضمونونو ته وهڅوي.

د تجربې په ډېرېدو په انسان کې د تحلیلولو او شنلو وړتیا ډېرېږي.

څوک چې له خلکو څخه گوښه اوسېږي، د هغوی وړتیاوې بشپړې نه غوړېږي.

هغه خلک چې له رنگارنگ تجربو څخه تېرېږي، د هغوی ذهني وړتیاوې په ښه توگه وده کوي.

همدا لامل دی چې ویل کېږي کوم ماشومان چې د خپلو میندو او پلرونو له کولتور څخه په متضاد کولتور کې وده کوي، په هغوی کې پرځان باور او ځیرکتیا ډېره وي.

تاسو ته چې د ځیرکتیا څومره شتمني در په برخه شوې ده، د شکر ادا کولو غوره طریقه یې دا ده چې هغه د الله تعالی د دین په چارو کې هم ولگوئ. په خپل غور او فکر د الله تعالی معرفت ترلاسه کړئ او خپلې ذهني وړتیاوې د هغه د دین په چارو کې وکاروئ.

# ذهني بلوغ

ذهني بلوغ له تجربې سره رامنځته کېږي. له عمر سره يې ځانګړې کول سمه خبره نه ده؛ ځکه ځينې د ډېر عمر کسان هم په ډېرو چارو کې بلوغ ته نه وي رسېدلي.

د دې روښانه مثال زموږ په دوره کې د کمپیوټر ساینس برخه ده. په دې ډګر کې په عامه توګه ځوانان د پاخه عمر لرونکو په پرتله ډېر رسېدلي وي؛ ځکه دوی له دې کار سره ډېر بلد دي او ډېره تجربه لري.

زموږ په دوره کې ژوند دومره پېچلی شوی دی، چې اوس يې په هره چاره کې ذهني بلوغ ته رسېدل د يوه شخص لپاره شوني نه دي.

تاسو چې د ژوند په کومو برخو لګه زده کړه، دنده او نورو کې بلوغ ته رسېدل غواړئ، په اړه يې ډېره مطالعه وکړئ او خپل علم د تجربې په معيار وساتئ.

له خپلو تېروتنو درس واخلئ او له تکرارولو يې ډډه وکړئ. په دې

سره به په یوه ځانګړې چاره کې ذهني بلوغ ترلاسه شي. محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم همدا خبره په دې ډول بیان کړې ده، چې مؤمن له یوه سوري دوه ځلې نه شي چیچل کېدای. د تجربې ټول علوم ښه بدله نه لري.

البته هوښیار خلک تر ډېره تر ځان وړاندې د نورو له تجربو ګټه اخلي. که هر ساینسپوه خپله څېړنه د پایې په اختراع پیلوله، نو په نړۍ کې به دومره ساینسي پرمختګ نه و شوی.

د نورو له تجربو څخه ترلاسه شویو پایلو ته پراختیا ورکړئ او په دې توګه ځانونه خپلو مشروع اهدافو ته ورسوئ.

# علمي کچه

علمي کچه په دوو طریقو لوړېږي، یعنې مطالعه و مشاهده او تجربه. د مطالعې او مشاهدې په وسیله انسان د نورو کشف شوی علم ترلاسه کوي او د تجربې په وسیله پکې پخپله زیاتونه کوي. له علماوو سره ناسته پاسته کوئ، ډېر مطالعه وکړئ او ترلاسه کړی علم د عملي تجربې په معیار وساتئ. په دې سره به مو د ذهني بلوغ ترڅنګ علمي کچه هم لوړه شي. محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم له خپل رب جل جلاله څخه د علم د زیاتېدنې دعا کوله. له ځیرکتیا او علم سره یوه فتنه هم تړلې ده او هغه د غرور او تکبر فتنه ده.

څوک چې ډېر هوښیار وي یا لوی عالم وي، عموماً نورو ته په کمه سترګه ګوري او د بل چا د خبرې د منلو زحمت نه ګالي، ولو که دا خبره یې حق هم وي. کله مو چې داسې خیال ذهن ته درشي، نو سملاسي الله تعالی ته رجوع وکړئ، توبه وباسئ او دا فکر وکړئ چې دا علم او هوښیاري چا درکړې ده؟

که پخپله دې پیدا کړې وي، نو بیا سمه ده، کنې چا چې درکړې ده، هغه یې درڅخه اخیستلی هم شي.

# د فکر ډول او فکري مکتب

هر انسان په یوه ځانګړې طریقه فکر کوي. ځینې شیان غوره ګڼي او ځینو ته ډېر اهمیت نه ورکوي. همدا لامل دی چې په بېلابېلو علومو کې د فکر مکتبونه رامنځته کېږي.
که په کوم علمي ډګر کې کوم فوق العاده شخصیت راپیدا کېږي، نو داسې زیاتونې پکې کوي چې په عامو خلکو کې یې ساری نه لیدل کېږي.
د فکر له دې طرز سره چې د کومو خلکو د فکر طرز ورتهوالی لري، د دې فوق‌العاده شخصیت پیروي کوي. په دې توګه د فکر یو مکتب رامنځته کېږي.
د دې یو لوی مثال د امام ابوحنیفه رحمه الله علیه د فکر مکتب دی. امام صاحب د یوې لوړې درجې هوښیار او ځیرک شخص و. د دین په پوهاوي کې چې کوم مقام لري، هغه د ډېرو کمو خلکو په برخه دی. هغه چې په دین څه ډول پوه شو او په دین د پوهېدو کوم اصول

یې چې وضع کړل، د هغه وخت د ځیرکو وګړو تایید یې ترلاسه کړ. امام صاحب هوښیار وګړي یو یو په ګوته راټول کړل او د اسلامي قانون د تدوینولو کار یې پیل کړ.

د دې موخې لپاره یې له خپل پراخ کاروبار څخه ترلاسه کېدونکی عاید ورته وقف وکړ. د خپلو نږدې شاګردانو د کورنۍ مصرف یې هم په غاړه واخیست او هغوی یې د ژوند د لګښتونو له اندېښنې خلاص کړل. د هغه د دې زیار په پایله کې د اسلامي فقې یوه لویه زېرمه رامنځته شوه، چې په یو څه موده کې د نړۍ د تر ټولو لوی هېواد قانون شو او کابو تر زرو (۱۰۰۰) کلونو دود و.

مالکي، شافعي، حنبلي، ظاهري او د فکر نور مکتبونه هم په دې توګه رامنځته شول. په نورو علومو لکه ارواپوهنه، اقتصاد او نورو کې هم موږ ته همداسې مثالونه په لاس راځي. د اقتصاد په علم کې ادم سمیت، مارشل، مارکس او کینز ځانګړي کسان دي، چې د خپل فکر مکتبونه یې رامنځته کړل.

په همدې توګه په ارواپوهنه کې د ولیم جیمز، واټسن، فروید او ماسلو د فکر مکتبونه ډېر مشهور دي. د نورو علومو هم همدا حال دی. د علم په نړۍ کې د خپلې نظریې د ډېر ټینګار کوونکي فکري مکتب غوره کول او له هغه سره تړاو پیدا کول کومه بده خبره نه ګڼل کېږي.

د هر فکري مکتب عالمان د نورو فکري مکتبونو درناوی کوي او دا دود له پخوا څخه تر ننه پورې را روان دی. د امام ابوحنیفه او امام

مالک علیهما الرحمه ترمنځ چې د کومې درجې درناوی و، مثال یې په عامو خلکو کې ډېر کم لیدل کیږي.

ستونزه هغه وخت رامنځته کیږي چې کله دا چاره د عالمانو له کچې د عوامو کچې ته ولوېږي. کله چې پر کوم فکري مکتب د لنډ فکرو او عام فکرو واکمني ټینګېږي، په بله وینا هغوی له خپلې وړتیا لوړ مقام ترلاسه کوي، نو بیا له ځان پرته نور خلک غلط او سپک ګڼي. د هغوی په اند د خپل فکري مکتب هره خبره سمه او د نورو خبره غلطه او ناسمه وي.

د هغوی ټول ټینګار د خپل نظر په ملاتړ د سمو او ناسمو دلایلو په چمتو کولو وي. له یو بل سره د حسد او کینې بڼه غوره کوي، چې په راتلونکې کې په لویې کرکې بدلېږي او بیا له فکري مکتب څخه عقیده، له عقیدې څخه فرقه او له فرقې څخه نوی مذهب راټوکیږي.

دا کومه بده خبره نه ده چې د خپل فکري مکتب او مزاج ټینګار کوونکي له بل فکري مکتب سره اړیکه ولري. چېرته چې کیسه له فکري مکتب څخه لویه او د عقیدې، ډلې او فرقې بڼه یې غوره کړې وي، له هغو څخه ډډه کول ډېره اړینه ده.

که انسان دا وګڼي چې زما له فکري مکتب پرته په دنیا کې نور مکتبونه حق نه دي او په همدې خبره منجمد پاتې شي، د خپل ذهن دروازې د هر نوي شي او نوي فکر پر مخ بندې کړې، نو د هدایت دروازې ورته بندیږي او د نفرت، تعصب او کرکې په اور کې سوځي.

په دې ځای کې د امام شافعي رحمه الله خبره ډېره معنا لرونکې ده، د دین په اصولي او اساسي چارو کې خو موږ دا ګڼو چې موږ په حقه یو او زموږ مخالف ناحقه دی؛ خو په اجتهادي او فروعي مسایلو کې دا ګڼو چې که څه هم موږ ځان ته سمه لاره اختیار کړې ده؛ خو د دې خبرې امکان شته چې موږ دې غلط یو او زموږ مخالف دې سم وي.

څوک چې خپل شخصیت تر یوې الګو کچې پورې تراشل او صیقل کوي غواړي، هغه ته په کار ده چې په ځان کې پراخ نظري وغوړوي او له لنډفکرۍ ځان وساتي، کنې شخصیت به یې نیمګړی پاتې شي. مورو‌پلار او ښوونکو ته هم په کار ده چې تر خپلې روزنې لاندې وګړي له هر ډول تعصب او لنډ فکرۍ څخه وژغوري.

# طبیعي لېوالتیا

په انسان کې د یوه کار طبیعي لېوالتیا تر سترګو کېږي. د دې طبیعي لېوالتیا په ځېلو ډېرې ستونزې رامنځته کېږي.
زموږ په ټولنه کې په عمومي توګه مورو پلار د ماشومانو لېوالتیاوې ځپي، پر هغوی خپلې شخصي لېوالتیاوې ور تپي.
په دې صورت کې ماشوم د خپلې لېوالتیا د پوره کولو لپاره غیراخلاقي طریقې هم غوره کوي. د دې یو لوی مثال د جنس په اړه زموږ چلند دی. په هر انسان کې د مخالف جنس لوري ته یوه طبیعي لېوالتیا تر سترګو کېږي.
د دې ساده او اخلاقي حللاره دا ده چې ماشوم څنګه بلوغیت ته ورسېږي، ژر تر ژره دې ورته واده وشي، تر څو خپل خواهش په طبیعي توګه پوره کړی شي.
زموږ په پخوانۍ ټولنه کې به همداسې کېدل، چې په پایله کې یې جنسي مسایل ډېر کم رامنځته کېدل.
زموږ په ټولنیز سیستم کې واده مخ په سختېدو دی او د جنسي تسکین ناروا طریقې پکې اسانېږي. بله لا دا چې رسنۍ د جنسي

خواهشاتو د څرګندولو په هڅو بېخي ډېرې بوختې دي.
همدا لامل دی چې زموږ په ټولنه کې جنسـي بېلارې خورېږي. د دې موضوع په اړه ښاغلي ریحان احمد یوسفي په خپله لیکنه «دا نعمت ولې په مصیبت بدل شو؟» کې په زړه پورې بحث کړی دی.
یو لوی مثال د زده کړې په ډګر کې تر سترګو کېږي. یو زده‌کوونکی چې کوم مضمونونه غوره کول غواړي، موروپلار یې په زور له هغو لرې کوي او هڅه کوي چې په خپله خوښه یې ډاکټر یا انجینر کړي. د شوق او لېوالتیا په اړه مورو پلار ته په کار دي چې د خپلو ماشومانو طبیعي لېوالتیاوې ونه ځپي او د خپل شوق پوره کولو ته یې پرېږدي.
په دې لړ کې عملي خنډ دا دی چې ځینې وخت د انسان شوق له یوه داسې مسلک سـره وي، چې په هغه کې ورته د غوره شخصیت د ترلاسه کېدو تمه نه وي.
د بېلګې په توګه یو شخص له ادبیاتو او فلسفې سـره ډېر شوق لري؛ خو په دې کې د دوکتورا تر کولو وروسته هم هغه ته کومه ښه دنده نه پیدا کېږي.
په داسې صورت کې عملي حللاره دا ده چې د خپلو لېوالتیاوو یو لیست جوړ کړي او غوره هغه یې ترې وټاکي. که لومړی غوره‌والی مو درته ښه شخصیت نه شـي درکولی، نو بیا دویم یا درېیم غوره‌والی اختیار کړئ او لومړی ترجیح د خپل فارغ وخت بوختیا یا شوق وګرځوئ.
د دې بېلګه دا ده چې فرض کړئ تاسو د فلسفې له لوستلو سـره

لېوالتیا لرئ او ستاسو غوښتنه دا ده چې په دې پوهنځي کې لږ تر لږه تر ماسترۍ زده کړې وکړئ.
زموږ په ټولنه کې د فلسفي زده کوونکي ښه شخصیت نه شي ترلاسه کولای. ستاسو دویمه ترجیح د بازار موندنې برخه ده، چې په هغې کې په عموم کې ښه شخصیت ترلاسه کولای شئ.
په دې صورت کې تاسو دا کولای شئ چې د دندې په توګه بازارموندنه غوره کړئ او فلسفه د شخصي شوق په توګه ولولئ.
تاسو د خپلې لېوالتیا د پوره کولو لپاره غوره او خرابې طریقې دواړه خپلولی شئ.
د بېلګې په توګه که تاسو د ادبیاتو له لوستلو سره شوق لرئ، نو په مثبت او رغنده ادبیاتو کې شاهکار آثار هم په لاس درتلی شي، منفي او د ناهیلۍ خوروونکي آثار هم په لاس درتلی شي.
د لېوالتیاوو په اړه دې خبرې ته پام وکړئ، چې باید تل ښه شیان انتخاب کړئ او له بدو شیانو ډډه وکړئ. هغه وړتیاوې دي چې په وسیله یې نوي نوي نظرونه ایجادوي او د هغو پر اساس په عملي ژوند کې نوي نوي اختراعات کوي.
له بده‌مرغه زموږ ټولنه د نوښتګر فکر زغم لمنځه وړي. د یوه اروا‌پوه په وینا زموږ په ټولنه هغه ماشوم یا شخص د خلکو خوښېږي چې منونکی وي، د نورو ادب کوي، کار په خپل وخت کوي، د هغه همعصره یې خوښوي او په نورو کې محبوب وي.
د دې په مقابل موږ داسې ماشومان نه خوښوو چې ډېرې پوښتنې

کوي، په فکر کولو او پرېکړې کولو کې خپلواک وي، په خپلو افکارو ټينګ درېږي، په يوه کار کې ډوب پاتې کېږي او له يوې مخې د يوه بااختياره شخص خبره نه مني.

لومړي ډول ماشوم ته موږ ښه ماشوم وايو او دويم ډول ماشوم بد ګڼو. زموږ په ښوونيز چاپېريال کې هم نوښتګر فکر ځپل کېږي.

که يو ماشوم په ازموينه کې د کومې پوښتنې په ځواب کې خپل نظر څرګندوي، نو هغه ته کمې نمرې ورکول کېږي.

زموږ په تلوېزيونونو او راډيوګانو کې د ذهني ازمېښت پروګرام د فکر کولو د وړتيا پرځای د حافظې ازمېښت اخلي. په ديني زده کړه کې هم د قرآن کريم په حفظولو ټينګار کېږي؛ خو پر هغه د پوهېدو او په ورځني ژوند کې ورڅخه د ګټې اخيستنې روزنه نه ورکول کېږي. د ماشومانو د بريا د ترلاسه کولو او په لومړۍ درجه د راتلو سپارښتنه کېږي؛ خو د علم ترلاسه کولو او نويو خبرو ته اهميت نه ورکول کېږي. موږ د تېروتنو له کولو او په همغو له اقرار کولو وېرېږو؛ خو له تېروتنو پرته نوښتګر فکر ناشونی دی.

که زموږ په ټولنه کې ځينو هنرمندانو او د هغوی نوښت ته اهميت ورکول کېږي، نو دا چاره له پامه غورځول کېږي، چې د هغې په پايله کې کوم انځور، خيال يا بل څه ايجادېږي، يعنې د نوښت پايلې ستايل کېږي؛ خو هغه خواري او زيار له پامه غورځول کېږي چې نوښتګر عمل ورته ويل کېږي. (رفيق جعفر، نفسيات، ۴۸۶-۴۸۷).

نوښتګر فکر درې مهم عناصر لري:

نوی‌والی، د یوې ستونزې د حلولو وړتیا او د یوې مهمې موخې ترلاسه کولو وړتیا.
د نویوالي مطلب دا دی چې په اوسنۍ یا دودیزه طریقه موندل کېدونکي شیان، تصورات او نور په انفرادي بڼه یا په خپلو کې سره یوځای شي یا له پیله ترتیب شي.
په نړۍ کې چې څومره اختراعي کارونه شوي دي، په هغو کې پخواني شیان یا تصورات په نوې بڼه لیدل شوې دي. د بېلګې په توګه کله چې نیوټن مڼه په لوېدو ولیده، نو دا کار نه د نیوټن لپاره او نه د بل چا لپاره کومه نوې پېښه وه؛ خو نیوټن دې عمل ته په یوه ځانګړې بڼه وکتل، هغه ته یې نوې معنا ورکړه او په دې توګه یې د جاذبې قانون کشف کړ.
که څه هم یوازې نوښت یو فکر یا عمل نه نوښتګر کوي، بلکې په دې کې د ستونزو حللاره هم ډېره مهمه ده. نوښتګر کسان ځینې داسې ځانګړنې لري، چې هغوی له نورو څخه بېلوي.
د ارواپوهانو د څېړنو پر اساس دا خلک انفرادیت خوښوونکي وي او د دودیز فکر او چلند په مقابل کې خپل ځان او فکر ته ډېر اهمیت ورکوي.
دوی پر نورو کمه تکیه کوي او په زیاترو چارو کې خپلواک وي، حتا چې د هغه پېژندونکي یې سرکشه او ضدي ګڼي. په هغه کې د خلکو د خوشالولو احساس کم وي.
دوی مستقل طبیعت لري، په کوم کار کې چې لېوالتیا لري، په

چټکې یې ترسره کوي او له ستونزو او ماتو څخه نه ډارېږي. که ملګري یې ورڅخه لاس هم واخلي، نو بیا هم ترې لاره نه ورکېږي.
عام خلک په شیانو کې سادګي، نظم او ترتیب خوښوي، له ابهام او تضاد څخه لرې تښتي او د افکارو له بدلون څخه وېرېږي. د دې برعکس د نوښتګر فکر لرونکو په شخصیت کې ډېر انعطاف وي.
هغوی له پېچلو، بې‌تعادله او نیمګړو شیانو سره ډېره لېوالتیا لري. د نویو شیانو په امتحانولو، تحلیلولو او هغو ته د بېلابېلو حللارو له لټولو خوند اخلي.
د رامنځته شویو شیانو د لېوالتیا پرځای له نوښتګر عمل سره ډېر شوق لري. په خپلو افکارو کې له رامنځته کېدونکي بغاوت، بې‌ثباتۍ، پېچلتیا او ګډوډۍ څخه نه وېرېږي.
د عامو خلکو په پرتله له خپلو ښېګڼو او بدګڼو څخه ډېر خبر وي. پر نورو سربېره له دې هم نه وېرېږي چې هغه به د طنز او ټوکو ښکار شي. د دوی کورنۍ چاپېریال په عموم کې مثبت وي. کورنۍ جګړې پکې کمې وي. موروپلار ماشومانو ته ازاد چاپېریال برابروي، چې په هغه کې ماشومان پخپله د خپلو تجربو په وسیله له چاپېریال څخه خبرېږي.
دوی چې په کومو ادارو کې زده کړې کوي، هلته چاپېریال آمرانه نه وي، بلکې پوښتونکو ته نور ډاډ هم ورکول کېږي.
په عموم کې له هغوی سره د ښوونکي اړیکه دوستانه وي او نوښتګرو وړتیاوو ته وده ورکول کېږي.

د دې معلوماتو په رڼا کې په ځان کې د نوښتګرو وړتیاوو د ودې لپاره باید ځینو خبرو ته پام وشـي.

هیڅکله د خپل فکر دروازې مه بندوئ. که په ذهن کې درسره کومه پوښتنه پیدا شوې وي، هغه یوازې شیطاني وسوسه مه ګڼئ او له پامه یې مه غورځوئ، بلکې هڅه وکړئ چې له پوهانو یې ځواب وغواړئ.

په ذهن کې د داسې افکارو د ساتلو تمرین وکړئ چې د یو بل ضد وي. له متضادو، پېچلو او نیمګړو شیانو او افکارو څخه مه وېرېږې.

په خپل کور او ادارو کې داسې چاپېریال رامنځته کړئ چې نوښتګرې وړتیاوې پکې وغوړېږي.

په خپلو ادارو کې د نظم په نامه په جبر تخلیقي وړتیاوې مه زندی کوئ، بلکې د نویو افکارو هرکلی وکړئ. د نوښتګر فکر د پراختیا ډېرې طریقې موندل شوې دي.

په دې کې یوه طریقه د Brainstorming یا د مغزو توپان ده، چې یوې ډلې ته پکې د ډېرو حللارو د موندلو لپاره ویل کیږي. په لومړي پړاو کې دې خبرې ته پام نه کیږي چې یوه حللاره ښه او د عمل وړ ده که نه ده.

د دې په پایله کې یو شخص یوازې له دې وېرې غلی نه کېني چې هسې نه ټوکې ورباندې وشـي یا یې نظر رد نه شي.

په بل پړاو کې د دې نظرونو مثبت او منفي اړخونه ارزول کیږي او غوره وړاندیزونه پکې انتخابیږي. په دې توګه د ټیم په صورت کې په بېلابېلو شیانو او نظرونو فکر کیږي، د کوم اقدام د لنډمهاله او

اوږدمهاله پایلو له معلومولو، د یوه شي په لاملونو او موخو له فکر کولو، د یوه اقدام له پلانولو، د یوې موضوع له بېلابېلو ممکنو اړخونو څخه د یوه له انتخابولو، د بدیلو لارو له لټولو، د پرېکړو له کولو او د نورو په نظرونو له پوهېدو نوښتګر فکر رامنځته کېږي.
تاسو هم د خپلو ملګرو په مرسته د فکر کولو د کوچنیو پروګرامونو په جوړولو دا کار کولی شئ.
د نوښتګر فکر په برخه کې دې خبرې ته پام وکړئ، چې ځینې خلک په دین کې د فکر او عمل له ټولو بریدونو اوړي، چې روا کار نه دی، لکه په پخوا زمانه کې باطنیه فرقې او په معاصر وخت کې ځینو کړیو د دین په اساسي تصوراتو لکه توحید، رسالت، آخرت، لمونځ، روژې، حج او زکات کې ډېرې لاس‌وهنې وړاندیز کړې دي. موږ ته چې الله تعالی کوم دین راکړی دی، د خپلو تخلیقي وړتیاوو په کارولو په دې کې کوم بدلون راوړل ناروا او ناسم عمل دی. څه ډول چې له محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دین رارسېدلی دی، په همغه ډول یې قبول کړئ.
په دین کې زموږ د نوښتګرو وړتیاوو د کارولو اصلي میدان د دیني احکامو په پوهېدو، د دین د پراختیا لپاره د نویو لارو په لټولو او په ژوند کې پر دین د عمل کولو په لاره کې له رامنځته کېدونکو خنډونو سره د مبارزې د عملي کړنلارو کشفول دي. که په دین کې د نویو شیانو په ورګډولو پیل وکړو، په دنیا کې به هم زیان وکړو او په آخرت کې به هم ناکام او بدمرغه شو.

# د مسؤلیت احساس

دا د انسان د شخصیت هغه اړخ دی چې د نورو په ذهن کې د هغه
د مقام په جوړولو کې ډېر مهم رول ترسره کوي.
که په چا کې بې‌پروايي تر سترګو کېږي، نو په ټولنه کې هیڅ مقام نه
لري.
بې‌ګټې او فضول ګڼل کېږي. کله چې یو انسان د یوه کار مسؤلیت
په غاړه واخلي، نو باید هڅه وکړي چې پوره یې کړي.
ځینې مسؤلیتونه داسې وي چې په ترسره کولو یا نه ترسره کولو کې
یې هیڅ واک نه وي.
د بېلګې په توګه که خدای مه کړه د چا مورو‌پلار مړه شي، نو د
کوچنیو خویندو او ورونو مسؤلیت ده ته ور له غاړې کېږي.
په دې چاره کې باید د انسان کړنلاره دا وي چې تر وروستي حده د
دې مسؤلیت د ترسره کولو هڅه وکړي او په دې برخه کې الله تعالی
ته دعا وکړي او مرسته ترې وغواړي.
دویم ډول مسؤلیتونه هغه دي چې د ترسره کولو واک یې له انسان
سره وي، د بېلګې په توګه یو کس د یوه ماشوم د روزنې مسؤلیت

په غاړه اخیستلی شي.
د داسې مسؤلیتونو تر منلو وړاندې باید هر څوک پوره فکر وکړي، چې آیا زه د دې مسؤلیت د منلو وړ یم که نه؟ آیا په راتلونکې کې زما په حالاتو کې د داسې بدلون تمه شته چې ښایي په پایله کې یې دا مسؤلیت ترسره نه کړی شم؟ په داسې صورت کې باید انسان دا مسؤلیت له پیله پر غاړه وانخلي.
ځینې وخت انسان یو مسؤلیت مني او له نورو سره ژمنه کوي. په دې چاره کې زموږ د دین حکم دا دی چې ژمنه باید حتمن پوره شي. ځینې وخت داسې وضعیت هم رامنځته کېږي، چې د حالاتو د بدلون له امله یو شخص ژمنه نه شي پوره کولی.
په داسې حالت کې ورته په کار ده چې هغو خلکو ته سمدستي خبر ورکړي چې ده ورسره ژمنه کړې او ورته ووايي چې د دې مجبوریت له امله دا مسؤلیت نه شي ترسره کولی. په وروستي وخت کې چا ته ځواب ورکول له اخلاقي پلوه ډېر پست کار دی.
د خپلو دنیوي مسؤلیتونو ترڅنګ هر څوک باید په دې پوه شي چې د الله تعالی لخوا هم ورباندې ځینې مسؤلیتونه دي، چې تر مرګ وروسته به یې حساب ورکوي.
پر هر انسان دا لازمه ده چې دا مسؤلیتونه وپېژني او د ترسره کولو هڅه یې وکړي.
څوک چې په دې کې غفلت کوي، ولو کې په دنیا کې لویې دندې هم ولري، د الله تعالی په نزد هیڅ مقام نه لري.

# ارادي قوت او پر ځان باور

څوک چې د یوه کار اراده وکړي؛ خو ترسره یې نه کړی شي، نو دا ویل کېدای شي چې ارادي قوت او پرځان باور پکې کم دی. پر ځان باور په دې معنا دی چې انسان په خپلو ارادو کې پیاوړی وي. په تصمیم نیولو کې چې هر څومره فکر وشي او هر څومره وخت ونیول شي؛ خو یو ځل چې پرېکړه وشي، بیا نه ښایي چې سړی ترې په شا شي، که داسې وشي، نو د سړي باور ته زیان رسېږي.
په همدې توګه څوک چې پر ځان باور نه لري، نو خلک هم وربانديې باور نه کوي. د ارادي قوت د ښه کولو طریقه دا ده چې خپل ذهن ته مشوره ورکړل شي چې زه د دې کار وړتیا لرم.
په پیل کې دې ځان ته کوچنۍ ننګونې ورکړي لکه زه وینا کولای شم، زه دا لوبه کولای شي، له یوه لوی افسر سره باوري خبرې کولای شم او نور. کله چې تاسو د دې ننګونو او چېلنجونو پر وړاندې بریالي شئ، نو پر ځان باور به مو زیات شي.
ورو - ورو دا ننګونې لویې کړئ. په لنډه موده کې به احساس کړئ چې اوس درکې کافي باور رامنځته شوی دی. د پر ځان باور په اړه

یو مهم اړخ دا دی چې باید له حده هم ډېر نه وي. ځینې خلک پر ځان د خپلو حقیقي وړتیاوو په اړه تر اړتیا ډېر باور لري.

د دې پایله دا وي چې هغه له نورو سره لویې لویې ژمنې کوي او کله چې یې نه پوره کوي، نو د نورو په نظر کې یې شخصیت زیانمنېږي. کله مو چې پر ځان باور کم وي، نو دا وخت له اړتیا زیات باور احساسول زیان نه لري؛ خو کله چې نورمال شئ، نو خپلې وړتیاوې په حقیقي توګه وارزوئ، په سم ډول خپلې ښېګنې او بدګنې تحلیل کړئ او د همدېوو پر اساس مو پر ځان باور تنظیم کړئ.

# زړورتیا

زړورتیا دوه اړخونه لري: یو باطني او دویم ظاهري.
باطني اړخ یې دا دی چې په یوه شخص کې له حقایقو او پایلو سره د مخ کېدو داسې حوصله وي چې د خپلو تصمیمونو په عملي کولو کې د وېرې او ډار چلند غوره نه کړي.
کومه خبره چې حق وګڼي، په هغې کلک ودرېږي او په اړه یې د ملامتې پروا ونه کړي. ظاهري اړخ یې دا دی چې د انسان د زړورتیا جوهر وغوړېږي، څرګند شي او په کلکه د دښمنانو مقابله وکړي.
په ځینو انسانانو کې د زړورتیا باطني او په ځینو کې ظاهري اړخ ډېر څرګند وي.
که موږ د صحابه کرامو رضي الله عنهم شخصیتونو ته وګورو، نو د ابوبکر او عثمان رضي الله عنهما زړورتیا لومړی ډول دی او د عمر او علي رضي الله عنهما زړورتیا دویم ډول دی.
د اسامه رضي الله عنه د لښکر روانېدل، د نبوت د ختم او د زکات د منکرینو په مقابل کې د جهاد په چاره کې ابوبکر رضي الله عنه داسې زړورتیا څرګنده کړه چې ستاینه یې د عمر رضي الله عنه په څېر زړور

انسان وکړه.

په همدې توګه عثمان رضي الله عنه پر ځان د حمله کوونکو په مقابل کې د لوړې درجې تقوا څرګنده کړه.

د عمر او علي رضي الله عنهما زړورتیا خو دومره ښکاره ده چې بیانولو ته اړتیا نه لري.

د عمر رضي الله عنه د اسلام په راوړلو د مسلمانانو په قوت کې دا توپیر رامنځته شو چې کومو خلکو به پخوا ښه کارونه په پټه کول، اوس یې په ښکاره پیل کړل.

د علي رضي الله عنه زړورتیا د خندق په غزا کې په ډاګه شوه چې د عمرو بن عبدود په څېر جنګیالی یې وواژه، چې د جنګي مهارت پر اساس په عربو کې له زرو (۱۰۰۰) سپرو سره برابر ګڼل کېده. په همدې ډول د خیبر کلا په فتحه کې د هغه رول د زړورتیا ځلانده مثال دی.

په همدې توګه په نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم کې د زړورتیا بېلابېلې ځانګړنې تر سترګو کېږي.

له دېوو څخه د زبیر بن عوام، سعد بن ابي وقاص، ابوعبیده، خالد بن ولید، عمرو بن عاص، سعد بن معاذ، اسید بن حضیر، سعد بن عباده، زید بن حارثه، جعفر طیار، عبدالله بن رواحه، قعقاع بن عمرو، عکرمه بن ابوجهل او عبدالله بن سعد بن ابي سرح رضي الله عنهم شخصیتونه څرګند دي.

د زړورتیا متضاده چاره وېره او ډار ده. په کوچنیو کوچنیو خبرو خپه

کېدل، له حقایقو سره له مخ کېدو وېره او له نورو څخه په اندېښنې ژوند کول د ډار نښې دي.
له دې څخه د خلاصون حللاره دا ده چې په خپل شخصیت کې پرځان باور پیدا شي. همدا پر ځان باور به یې د ډار د ختمېدو لامل شي. د دې عملي طریقه د پر ځان باور په عنوان کې بیان شوې ده.
د زړورتیا په اړه یو مهم اړخ دا دی چې انسان د زړورتیا په گومان له حقیقت خوښونې لرې لاړ نه شي. داسې نه شي چې یو کس د خپلې زړورتیا له امله خپلې وړتیا ناسمې اټکل کړي او تر وخت وړاندې له داسې قوت سره ټکر شي چې د مقابلې وړتیا یې ونه لري. د دې پایله به یوازې او یوازې د هغه د ځواک ختېمدل وي. د زړورتیا په گومان د ځمکنیو حقایقو له پامه غورځول له ځان وژنې پرته بل څه نه دي. د زړورتیا سم اړخ دا دی چې انسان د خپلې وړتیا تر ممکن برید پورې د حق پلوی شي او د حق کلمې د لوړولو هڅه وکړي.
له همدې امله د ظالم واکمن پر وړاندې د حق کلمې ویلو ته افضل جهاد ویل شوی دی. زموږ د انبیاوو کرامو علیهم السلام او د دین د بزرگانو علیهم الرحمه سیرت له داسې پېښو ډک دی چې د حق کلمې د لوړولو لپاره یې سخت ظلمونه او مصیبتونه وزغمل.

## انصاف خوښونه

عدل او انصاف زموږ په دین کې ډېر اهمیت لري. د عدل معنا دا ده چې حق خپل حقدار ته ورکړل شي. په دین کې د انصاف غوښتنه په دومره شدت شوې ده چې د خپلو شخصي، ملي یا دیني دښمنانو په اړه د ناانصافۍ هیڅ چلند هم الله تعالی نه خوښوي. الله تعالی فرمايي:﴿**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ**﴾(المائده: ۸)؛

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د الله لپاره (په حق باندې) مضبوط ولاړ اوسئ، چې په انصاف سره گواهي کوونکي یئ او د یو قوم بغض دې تاسو دې ته راپورته نه کړي چې تاسو عدل ونه کړئ، عدل کوئ، دا تقوىٰ ته ډېر نږدې دی او له الله نه ووېرېږئ، بیشکه الله ښه خبر دی په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ.

دا آیت بیانوي چې دلته په ځانگړې توگه د هغو دښمنانو یادونه ده چې د دین پر بنسټ وي.

ښکاره ده چې دا د دښمنۍ تر ټولو سخته بڼه ده، چې په دې کې هم مسلمانان له ناانصافۍ او افراط څخه منع شوي دي.
که موږ خپل چلندونه وارزوو، نو دا خبره به واضح شي چې د قرآن کریم پر روښانه لارښوونې سربېره زموږ په ټولنه کې د انصاف خوښونې ډېر کمې دی. د قضایي انصاف خبره خو پرېږدئ، په خپل ورځنۍ ژوند کې بار بار انصاف وژنه کوو.
پر سړک د تلو پر مهال له موږ څخه ګومره دینداره کسان د ترافیکو قوانین ماتوو او د نورو حق ضایع کوو. په همدې ډول دوکاندار د خپلو توکو پیسې پوره ترلاسه کوي؛ خو د کمیت او کیفیت له پلوه پوره نه وي.
په خپلو کاروباري چارو کې د نغد جریان د حالت د ښه کولو لپاره د قرارداد خلاف د پیسو په ورکولو کې ځنډ عامه خبره ده چې له وړو دوکاندارانو نیولې لوی لوی شرکتونه هم په دې ناوړه عمل اخته دي.
زموږ زیاتره خلک د ودونو د شمېر د اجازې په استعمال کې ډېر بې‌باکه دي؛ خو د قرآن کریم د امر پر اساس په هغو کې د عدل او انصاف پوښتنه هم نه پیدا کېږي. په عموم کې د نویو مېرمنو نازونه وړل کېږي او پخوانۍ مېرمنې له پامه غورځول کېږي.
کله چې خلک په کتار کې ولاړ وي، نو ډېر خلک د هغوی حق اخلي او په منځ کې د ورننوتلو کوښښ کوي. موږ ته یوازې د نورو تېروتنې معلومېږي او خپلو تېروتنو ته پام نه کوو. د یوې موضوع په

ځانګړې توګه د دیني موضوع په اړه د اختلاف په صورت کې د
نورو خبرې ته غوږ نیول راته ښه نه ښکاریږي.
ښايي موږ دا وګڼو چې په کومه عقیده او باور چې اتفاقاً پیدا شوي
یو، هغه حق دی. که همداسې وي، نو بیا د هغو خلکو څه ګناه ده
چې د نورو مذهبونو یا عقیدو په کورنیو کې زیږېدلي دي او خپل
نظر سم ګڼي.
که موږ هغوی غلط ګڼو، نو باید د خپلې پلرنۍ عقیدې په اړه هم د
حق د یوه ربښتیني لټوونکي په توګه بیاکتنه وکړو.
زموږ چلند په عموم کې دا دی چې که د مخالف فکر کوم شخص
څېړنې ته چمتو وي او د دې لپاره باید زموږ په فکر پوه شي، نو پر
سر یې کېنوو؛ خو که زموږ له فکر سره تړاو لرونکی یو زده
کوونکی د نورو فکرونو د کتابونو مطالعه پیل کړي، نو لاس ترې
مینځو او خبرې ورپسې کوو.
د مخالفې عقیدې د یوه کتاب لوستل یا د هغوی د یوه عالم خبره
اورېدل زموږ په اند بېلارې ده. له پیل څخه زموږ ذهنونو ته دا ور
پیچکاري کیږي چې پلانی مشرک دی، پلانی بدعتي دی یا پلانی
د رسول سپکاوی کوونکی دی. د هغه کومه خبره اورېدل یا یې
کتاب لوستل ناروا دي؛ ځکه چې له دې څخه د بېلارې کېدو خطر
دی. د ځینو خلکو په اند خو د نورو مذهبونو له یوه کس سره په
سلام یا خبرو کولو هم نکاح فاسدیږي.
زموږ دین د عدل او انصاف ملاتړی دی او په همدې امر کوي. آیا

د نړۍ یوه محکمه به هم کوم تورن د هغه د خبرو له اورېدو پرته هغه مجرم وګڼي او سزا به ورکړي؟ له بده‌مرغه زموږ عام مسلمانان د عدل او انصاف د ملاتړي پر بلل کېدو سربېره د نورو مذهبونو د خبرو له اورېدو پرته د هغوی په اړه د کفر، شرک، بدعت او د رسول د سپکاوي کوونکي فتوې ورکوي او په دې کار کې کومه وېره او شرم نه احساسوي.

تر دې چې د مخالف مذهب د یوه شخص وژل ګناه هم نه ګڼي، بلکې د ثواب کار یې بولي. په داسې کار کې کوم مذهب ځانګړی نه دی، بلکې د ټولو مذهبونو په خلکو کې دا کار تر سترګو کېږي. دا خبره ټول هېروي چې په دې توګه د عدل او انصاف په وژلو بوخت دي.

که موږ پر قرآن کریم رښتینی ایمان لرو، نو باید په حقیقي معنا حق او انصاف د خپل شخصیت برخه وګرځوو. پر انصاف باید هیڅ ډول جوړجاړی ونه شي. کومه خبره چې حق او انصاف ګڼو، د خپل وس مطابق وربانديې ټینګ درېدل او په مقابل کې یې د ملامتۍ پروا نه کول هغه چلند دی چې دین یې له موږ څخه غوښتنه کړې ده.

که موږ په خپل ورځني دیني او دینوي ژوند کې ناانصافي پرېږدو، نو ډېر ژر به مو په ټولنیز ژوند کې د حق او انصاف غږ لوړ شي او واکمن او محکمې به مو هم د انصاف رامنځته کوونکي شي؛ خو که د خپل چلند د اصلاح پرځای یوازې پر حکومت نیوکې کوو، نو حالات به همداسې وي، بلکې تر دې به هم بد شي.

# له بریا سره لېوالتیا

د غوره شخصیت د رامنځته کولو لپاره د بریا او کامیابۍ هیله او لېوالتیا راپارول اړینه چاره ده. په چا کې یې چې کمې وي، هغه خو لویه کارنامه څه چې کوچنی کار هم نه شي ترسره کولای.
په ځان کې د بریا د لېوالتیا طریقه دا ده، تر څو په دې خبره فکر وشي چې الله تعالی دې نړۍ ته ولې رالېږلي یو؟ له کومو ننګونو سره مخ یو، چې ترې راوتل راته اړین دي؟ تر دې وروسته خپلې مخې ته کوچنۍ کوچنۍ ننګونې کېږدئ او پر خپلو کوچنیو بریاوو خوښېدل زده کړئ. د ځینو خلکو ناکامۍ په هغو کې د بریا هیله وژني. د ناکامۍ پر مهال باید دې خبرې ته پام وشي چې بریا او ماتې د ژوند دوه مهم اړخونه دي. که نن د یوه هدف په ترلاسي کې ناکامېږم، نو اړینه نه ده چې سبا به هم همداسې وي.
د ماتې یو روښانه اړخ دا دی چې انسان ته د خپلو نیمګړتیاوو د ارزونې فرصت په لاس ورځي. د بریا په اړه له حقیقت لرې تمې هم مه لرئ، کنې بریا به هم ماتې احساس شي. د بریا شوق ښه شی دی؛ خو که په دې کې توندلاري رامنځته شي، نو انسان ډېر زیات احساساتي کېږي او د ماتې په خوړلو یې ډېر سخت له ژونده زړه توریږي.

# بُخل او سخاوت

ځینې وخت انساني شخصیت په ځینو ناروغیو اخته کیږي، چې د هغو له ډلې یو بخل دی. د دې برعکس چاره سخاوت دی.
د بُخل معنا دا ده چې انسان ته الله تعالی کوم نعمتونه په تېره مال او شتمني ورکړي دي، د هغو په کارولو کې بخیل واوسي او چېرته یې چې مصرفول اړین دي، هلته یې له مصرفو ډډه وکړي.
د بېلگې په توگه یو شخص ډېر شتمن وي؛ خو بیا هم زړې او شلېدلې جامې اغوندي او خپل بچیان هم دې کار ته مجبوروي یا وچه ډوډۍ خوري، نو دا بخل دی.
محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې خبرې تعلیم راکړی دی چې الله تعالی انسان ته کوم نعمتونه ورکړي دي، د هغوی نښې باید د هغه پر شخصیت هم ښکاره شي.
د بخل یو لوی مثال هغه وخت لیدل کیږي چې کله له اړمنو سره مرسته کوو.

که موږ ته کوم حقیقي اړمن راشي، نو په دې وخت راته خپلې ټولې اړتیاوې رایادېږي؛ خو د خپلو عیاشیو پر مهال ورته خامخا د مصرفولو یو جواز مومو.

که له یوه اړمن سره مرسته و هم کړو، نو دا هیله ترې لرو چې ټول عمر زموږ احسان ومني او غلامي مو وکړي.

د شخصیت د دې اړخ بله انتها اسراف او اضافي مصرف دی.

انسان د خپلو خواهشاتو دومره غلام شي چې د پوره کولو لپاره یې د شتمنۍ په ضایع کولو پیل وکړي. په قرآن کې داسې خلکو ته د شیطان وروڼه ویل شوي دي.

د عیاش ژوند ډېر مثالونه زموږ په ټولنه کې تر سترګو کېږي. زموږ زیاتره وروڼه د خپلو غوښتنو د پوره کولو لپاره په میلیونو پیسې مصرفوي؛ خو د هغو غریبانو ورسره هیڅ غم نه وي چې بچیان یې له ډېرې لوږې ژاړي.

دین موږ ته دا لارښوونه کوي چې د افراط له دې کړنو ځان وژغورو او د اعتدال لاره خپله کړو. چېرته چې باید مصرف وشي، هلته د مال نه مصرفول بُخل دی او چېرته چې باید مصرف ونه شي، هلته د مال مصرفول اسراف دی.

سخاوت او لوی زړه دې ته وايي چې چېرته باید مال مصرف شي، هلته انسان د مال او پیسو له مصرفولو ونه وېرېږي، بلکې د زړه له کومې یې ولګوي او په هر صورت کې ځان له اسراف څخه وژغوري.

# حرص او قناعت

په همدې ډول یو چلند حرص دی. بُخل په اصل کې د انسان د شتمنۍ د مناسب مصرف په لاره کې خنډ دی، حال دا چې حرص د مال د ترلاسه کولو د نامناسبې غوښتنې انځورګري کوي.
انسان د یوه شي په تېره د شتمنۍ د ترلاسي لپاره دومره حریص کېږي چې د مال د ترلاسه کولو د روا او ناروا طریقو پروا نه کوي او یوازې د خپلې خېټې او خزانو د ډکولو فکر کوي.
زموږ په ټولنه کې چې د فساد کومه وبا په خورېدو ده، لامل یې همدا چلند دی.
زموږ په دین کې د شتمنۍ غوښتنه بده نه ده ګڼل شوې؛ بلکې په ژوند کې د یوه مهم محرک په توګه منل شوې ده؛ خو په دې چاره کې افراط ناسم بلل شوی دی.
له حرص او تمې څخه په ځان ساتلو انسان په روا طریقو د شتمنۍ د ترلاسه کولو هڅه کولای شي، په دې شرط چې د نورو حقوق تر پښو لاندې نه کړي. دا چلند قناعت نومېږي.
زموږ په ټولنه کې ځینې خلک د قناعت معنا دا ګڼي چې انسان دې

خپله غریبي غوره کړي او د شتمنۍ له روا طریقو دې هم ډډه وکړي. دا فکر له اسلام سره هیڅ تړاو نه لري، بلکې د رهبانیت لخوا رامنځته شوی نظر دی.

په اسلام کې د قناعت مفهوم دا دی چې انسان د شتمنۍ د ترلاسه کولو له ناروا طریقو څخه ډډه وکړي او په روا طریقو چې کومه شتمني ترلاسه شي، شکر دې پرې وباسي.

په ناروا طریقو د شتمنۍ له ترلاسه کولو څخه د ځان ساتنې لپاره اړینه ده چې په روا طریقو د مناسب مال ګټلو لپاره له خپلو وړتیاوو څخه کار واخیستل شي.

دا کار د هغو نویو ځوانانو لپاره ډېر مهم دی چې د ځان لپاره د شخصیت د انتخابولو پرېکړه کوي.

د ځان لپاره تل داسې مسلک انتخاب کړئ، چې د حلال رزق د ګټلو غوره فرصتونه او له حرامو د ځان ساتلو غوره اسانتیاوو ته لاسرسی ولرئ.

زموږ په چاپېریال کې ډېرې داسې دندې هم شته چې حلال پکې په سخته موندل کېږي او ډېر کم موندل کېږي، البته د حرامو د ترلاسه کولو فرصتونه بې‌شمېره دي. د دولتي دندو په اخیستو کې دا چاره نسبت نورو ته ډېره ده.

د مسلک د انتخابولو پر مهال الله تعالی ته دعا وکړئ او له ښو خلکو مشوره وغواړئ.

# عادتونه

د انسان د شخصیت مهم اړخ د هغه عادتونه دي.
له عادتونو څخه مطلب د انسان د یوې بڼې کړنې دي چې پر اساس یې په ځانګړو حالاتو کې یوازې یو غبرګون څرګندوي.
کابو تر دولس کلنۍ وروسته چې د انسان د شخصیت غیر مادي وجود وده کوي، نو عادتونه یې په ډېرې چټکۍ رامنځته کېږي. له عمر سره سره یې دا عادتونه پخېږي.
په لوړ عمر کې د دې عادتونو بدلون ډېر سختېږي. په خوراک او څښاک، اوسېدو، لیدو کتو، ویده کېدو او ویښېدو، د جنسي خواهش د پوره کولو او د ژوند د نورو چارو په اړه هر انسان په ځانګړو کړنو عادت وي.
که تاسو د عمر له دې برخې څخه تېرېدونکي یاست یا په راتلونکې کې ترې تېرېږئ، نو د غوره عادتونو خپلول او له بدو عادتونو ځان ساتل به درته اسانه وي؛ ځکه د شخصیت جوړونې چاره اوس په چټکۍ روانه وي.
په دې چاره کې له خپل مورو پلار، استادانو او ښو ملګرو څخه

مشوره ترلاسه کړئ.
په دې عمر کې له بدو ملګرو څخه ځان ساتل ډېر اړین دي، ولو که ډېر درباندې ګران هم وي؛ ځکه همدا په یوه شخص کې د بدو عادتونو د پخېدو لامل کېږي.
که تاسو د عمر له دې برخې څخه تېر شوي یاست، نو د بدو عادتونو بدلول که یو څه ستونزمن دي؛ خو دا کار ترسره کول په ښه توګه ستاسو د پاتې ژوند د تېرولو لپاره اړین دی.
تاسو په خپل ځان د باور په وسیله دې بدو عادتونو ته ماتې ورکولای شئ.
که په دې برخه کې اړتیا وي، نو له یوه ارواپوه سره هم مشوره کېدای شي، په ځانګړې توګه د هیپنوتیزم (د تمرکز رامنځته کولو) متخصصین په دې برخه کې ښه مرسته درسره کولای شي.
د بدو عادتونو یو جامع نوملړ جوړول یو څه سخت کار دی؛ خو په موږ کې د ښه‌والي او بدوالي دومره شعور ضرور شته چې په مرسته یې د ښو او بدو عادتونو ترمنځ توپیر وکړای شو.
زموږ په ټولنه کې په عامو بدو عادتونو کې دروغ ویل، غیبت کول، عیب لټول، د نورو خبرې وړل راوړل، د جنسي بې‌عدالتۍ څرګندول، په هره خبره جګړه کول او په خوب کې اعتدال نه کول شامل دي.

# د کسب او مسلک مهارت

د یوه شخص په اقتصادي ژوند کې د هغه فني او مسلکي مهارت ډېر مهم دی. تاسو چې هر مسلک غوره کوئ، په دې کې د اړینو مناسبو وړتیاوو کمښت مو له یوې خوا په هم‌مسلکو کسانو کې عزت کمولای شي او له بلې خوا مو د پرمختګ په لاره کې خنډ کېدای شي. د مسلک له انتخابولو وړاندې دا وګورئ چې آیا دا مسلک خو به مو له شخصي لېوالتیاوو سره په ټکر کې نه وي؟ تل هغه مسلک غوره کړئ چې له طبیعي وړتیاوو سره مو همغږی وي.

همدا شی به مو له فني او تخنیکي پلوه پیاوړي کړي او ان‌شاءالله ډېر پرمختګ به در په برخه کړي.

له مسلک سره بې‌عدالتي کول د دنیاوالو په نظر کې هم یو بد شی دی او د الله تعالی په نزد هم ناخوښه عمل دی. په خپل مسلک کې د مهارت ترلاسه کولو لپاره شوق او لېوالتیا ته اړتیا ده.

د اړوندو وړتیاوو د ودې لپاره د کتابونو مطالعه، له پوهانو سره ناسته پاسته او په بېلابېلو کورسونو کې ګډون اړین دی. په دې برخه کې چې هر څومره پیسې مصرف شي، دا مو په خپل ځان پانګونه ده.

# جنسي لېوالتيا

په انسان کې د جنسي لېوالتيا شتون نورمال او طبيعي خبره ده. دا داسې ده لکه موږ چې وږي او تږي کېږو.
د دې لېوالتيا په برخه کې د غربيانو چلند او کړنې فراطي دي، چې په پایله کې يې هلته جنسي بېلارۍ، جنسي ستونزې او ناروغۍ ډېرې زياتې دي.
د جنس په اړه زموږ د ټولنې چلند ډېر عجيب دی. دلته د جنس په اړه يوه شديده وېره تر سترګو کېږي.
له يوې خوا خو په دوديزه توګه د جنس د موضوع په اړه خبرې کول، يو کتاب لوستل او په اشارو او کنايو کې يې يادول ډېر عيب لرونکی، بلکې يو غليظ عمل بلل کېږي؛ خو بلې خوا د نوي مادي تمدن په پيروۍ کې زموږ د جنسي خواهش تحريکوونکي عوامل په پرېمانه اندازه موندل کېږي، چې زموږ رسنۍ يې د نوملړ په سر کې دي.
زموږ په دين کې له واده پرته جنسي اړيکې لويه ګناه بلل کېږي؛ خو د دې برعکس زموږ په ټولنه کې له واده څخه يو لوی پېټی جوړ

شوی دی.
د سختو او نامعقولو رواجونو له امله واده کول په ډېر سخت کار بدل شوی دی.
زموږ په ټولنه کې هغه وخت واده کیږي چې یو انسان د جنسي لېوالتیا له عروج څخه تېر شوی او زړښت ته ورنږدې شوی وي.
دا په دې معنا ده لکه یوه تېږي ته چې هغه وخت اوبه ورکړل شي چې د تندې شدت یې ختم شوی وي. د دې ټولو ترڅنګ د جنسي بېلاریو فرصتونه ډېرېږي.
بله لا دا چې د جنس په اړه ځوانانو ته سم معلومات نه چمتو کیږي.
همدا لامل دی چې زموږ په ځوانانو کې جنسي ستونزې زیاتېږي او ټولنه له یوه عجیب ټکر سره مخ ده.
د دې حالاتو له امله چې کومې جنسي ستونزې رامنځته کیږي یا رامنځته کېدای شي، تفصیل یې په دې ډول دی:

١. د ځوانانو او پېغلو ترمنځ له واده پرته د جنسي اړیکو رامنځته کېدل؛
٢. په ځوانانو کې د همجنس‌پرستۍ وده؛
٣. له درېیم جنس څخه د جنسي تسکین ترلاسه کول؛
۴. له حیواناتو سره د جنسي فعل ستونزه؛
۵. پر ماشومانو جنسي تشدد؛
٦. د مخالف جنس کړنې او عادتونه خپلول؛
٧. د خپلو جنسي غړو او افعالو ښکاره کول؛

۸. جنسي ځورونه، یعنې د مخالف جنس یا ځان په ځورولو جنسي تسکین ترلاسه کول؛
له دېوو څخه کابو ټولې جنسې ستونزې زموږ د ټولنې په بېلابېلو وګړو کې تر سترګو کېږي.
له مخالف جنس سره اړیکې خو تر اوسه زموږ په ټولنه کې دومره عامې شوې نه دي لکه په غربیانو کې چې دي؛ خو همجنس پرستي په پټه له اوږدې مودې راهیسې تر سترګو کېږي.
په ډېرو ځوانانو کې د مخالف جنس د کړنو د خپلولو وبا هم کافي خوره شوې ده او عموماً د شتمنې طبقې ځوانان وربانديې اخته کېږي.
پر ماشومانو د جنسي تشدد او جنسي ځورونې په څېر د ناوړه جرم پېښې که څه هم کمې دي؛ خو په تېرو څو کلونو کې یې په شمېر کې ډېروالی راغلی دی.
له وخت سره سره د دې جرمونو شدت هم ډېرېږي، چې لوی مثال یې په لاهور کې پر ډېرو ماشومانو د تشدد او د هغوی ظالمانه وژنه وه. له دېوو څخه زیاتره جرمونه له پخوا زمانې څخه تر سترګو کېږي؛ خو په معاصر وخت کې د رسنیو ناسمو کړنو دا په ډېرې چټکۍ زیات کړي دي.
له دې ټولو ستونزو څخه د ژغورل کېدو یوازینۍ لاره دا ده چې واده په مناسب عمر کې وشي. له بده مرغه د دې موضوع په اړه ټولنیز فشار دومره ډېر دی، چې په ودونو کې خامخا ځنډ رامنځته کېږي.

له دې ستونزې سره د ښځو په پرتله نارینه ډېر مخ کېږي.
لږ تر لږه هغه خلک چې دیني ذهنیت لري او د کورنۍ او ټولنې د فشار پروا نه لري، هغوی ته حتمن دا په کار دي چې خپل اولاد ته په مناسب وخت کې واده وکړي.
دا خبره خو اوس ښېخي روښانه ده چې زموږ په ټولنه کې د رسنیو رول اصلاح نه شي او ترڅنګ یې په ودونو کې د ځنډ چاره روانه وي، نو په څو کلونو کې به مو ټولنه د جنسي بېلارۍ ښکار شي او تر غربي ټولنو به یې شدت زیات وي.
څوک چې له خپل نسل سره رښتیني وي، پر هغوی دا خبره د فرض تر درجې لازمه ده چې خپل اولاد ته ژر تر ژره واده وکړي.
دا سمه ده چې له ژر واده کولو څخه ځینې اقتصادي او ارواییي ستونزې رامنځته کېږي؛ خو د دې ستونزو اهمیت د هغو ستونزو په پرتله د نشت برابر دی چې په ځنډ د واده کولو په پایله کې رامنځته کېږي.
که د قناعت چلند غوره شي، نو دا ستونزې په اسانۍ حل کېدای شي. په ځانګړې توګه هغه مورو پلار چې له مالي پلوه پیاوړي دي، د خپل اولاد تر واده وروسته هم د هغوی بوج پورته کولای شي.
هغه ځوانان چې له دې ستونزو څخه خوندي پاتې کېدل غواړي، په انفرادي توګه په څو نورو طریقو خپله غوښتنه کمولی شي.
په دې کې له دیني چاپېریال سره اړیکه لرل، ډېرې نفلي روژې نیول او ذهن په مثبتو چارو کې بوخت ساتل شامل دي.

هغه کسان چې په کومې جنسي ستونزې اخته شوي وي او اوس غواړي توبه وکړي او خلاصون ومومي، هغوی دې ارواپوهانو او د جنسي ناروغیو ډاکټرانو ته رجوع وکړي.

دې خبرې ته دې پام وشي چې په داسې حالاتو کې دې له دوکه بازو پیرانو، تش په نامه پروفیسرانو او فریبکارو حکیمانو ته له ورتګ څخه ډډه وشي؛ ځکه دا خلک په عمومي توګه د ډېرو زیان لرونکو درملو په وسیله درملنه کوي، چې زیاتره وخت په لنډمهاله توګه ستونزه حلوي؛ خو په اوږده موده کې بدني او ذهني روغتیا ته نه جبرانېدونکی زیان رسوي.

# غوسه

د جنسي خواهشاتو په څېر غوسه هم یو طبیعي عمل دی او په انسان کې هغه وخت رامنځته کېږي چې د یوې موخې په ترلاسي کې له خنډ سره مخ شي یا هغه څه ترسره نه کړی شي چې په خپله غوښتنه او خوښه یې ترسره کول غواړي.

دا طبیعي احساس زموږ په ټولنه کې عموماً بد ګڼل کېږي، حال دا چې یوازې ناسم استعمال یې بد کار دی. د غوسې ناسمه کارَونه هغه ده چې موږ یې په خپل ورځني ژوند کې وینو چې خلک د غوسې پر مهال بدې ردې وایي یا جګړه او جنجال کوي.

د دې په پایله کې زیاتره وخت یو لوری پر بل لوري تېری هم کوي.

په ټوله نړۍ کې ویجاړوَنه او توندلاري د همدې احساس پر اساس رامنځته کېږي.

د غوسې د احساس سم استعمال دا دی چې که د کومې روا غوښتنې په پوره کولو کې خنډ رامنځته شي، نو له دې څخه رامنځته کېدونکی احساس مثبت لارې ته برابر شي، د عمل په قوت بدل شي او په وسیله یې لوی لوی کارونه ترسره شي.

د دې مثال دا دی چې که په یوه اداره کې د یوه شخص د پرمختګ په لار کې څوک خنډونه رامنځته کوي، نو له هغه سره د جګړې کولو پرځای د غوسې جذبه د خپلو وړتیاوو په بشپړ استعمال کې ولګوي او خپل اهلیت او وړتیا ثابته کړي.

د اسلام دین د غوسې په اړه هم لارښوونه کړې ده.

د قرآن کریم او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د سیرت له مطالعه کولو دا معلومېږي چې د سختې غوسې په حالت کې انسان باید هڅه وکړي چې ځان کنټرول کړي او په دې حالت کې له پرېکړې کولو څخه ډډه وشي. په دې حالت کې هم ښښنه کول تر ټولو غوره ده:

**﴿الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السراءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾** (آل عمران: ۱۳۴)

ژباړه: «هغه کسان چې انفاق کوي په اسانۍ او تنګۍ کې او خصوصًا چې غوسه زغمي او خلکو ته معافي کوونکي وي او الله نېکي کوونکي خوښوي».

رسول الله صلی الله علیه وسلم د غوسې د حالت په اړه سپارښتنه کړې چې داسې شخص که ولاړ وي، کېدېني او که ناست وي، نو باید څملي.

په دې توګه به یې غوسه راکمه شي. په همدې ډول په داسې حالاتو کې په ځینو روایتونو کې د اودس کولو امر شوی دی، تر څو د غوسې شدت کنټرول شي.

که موږ په خپل کاري چاپېریال کې کومه بدي یا ظلم ووینو، نو باید په موږ کې یې د ختمولو هیله راپیدا شي.
په دې صورت کې هم له کنټروله وتل، له خپلو حدودو اوښتل او له نورو سره شخړه او جګړه کول سم کار نه دی.
انسان باید تل د یوه اقدام د کولو پر مهال حوصله ولري او هیڅکله هم له خپلو قانوني او اخلاقي حدودو تجاوز ونه کړي.
د بېلګې په توګه موږ وینو چې یو څوک په ټولنه کې بې‌حیایي او نشه‌یي توکي خوروي.
په داسې صورت کې له هغه سره د مستقیم ټکر پر ځای غوره طریقه دا ده چې د دې په اړه قانون نافذوونکو ادارو ته خبر ورکړل شي یا په ټولنه کې له هغه څخه د لرېوالي کمپاین وشي او د دې شي له زیانونو خبر شي.
ځینې خلک د دې ادارو فساد او نااهلي اساس ګڼي او په خپله جګړې ته وردانګي. د دوی دا کړنلاره سمه نه ده؛ ځکه موږ باید دومره کار وکړو چې له غوښتنه یې راڅخه کېږي.
له خپلو قانوني او اخلاقي بریدونو څخه په تېرېدو یو نوی غلط کار پیلوو، چې پایلې یې زیاتره وخت تر هغه هم بدې وي چې د دې شخص له کار څخه رامنځته کېږي.

# ناهیلي

ناهیلي هغه وخت رامنځته کیږي چې زموږ د یوې غوښتنې په لاره کې خنډ رامنځته شي او په اړه یې کومه بدیله لار هم په نظر رانه شي. د غوښتنې شدت او له نورو څخه ډېرې زیاتې تمې لرل ناهیلي نوره هم ډېروي.

د ناهیلۍ د راکمولو طریقه دا ده چې انسان له نورو څخه ډېرې تمې ونه لري او د غوښتنې د نه پوره کېدو په صورت کې ستړی کېنه‌ني، بلکې په نورو بدیلو لارو فکر وکړي.

د اسلام دین په دې لړ کې موږ ته لارښوونه کوي او دا درس راکوي چې باید هیڅکله د الله تعالی له رحمت څخه ناهیلي نه شو:

﴿**قُلْ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُواْ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا**﴾ (زمر: ٥٣) ژباړه: «ووایه: ای زما بندګانو چې (د ګناه په ارتکاب سره) مو پر ځانونو زیاتی کړی دی، د الله له رحمت څخه مه ناهیلي کیږئ، یقیناً الله ټول ګناهونه ببښي».

د دې موضوع په اړه مو په تفصیل سره په خپله لیکنه «له ناهیلي څخه څه ډول خلاصون ومومو؟» کې په تفصیل سره بحث کړی دی.

# خوښي او خپګان

دا د ژوند هغه اړخ دی چې باید ضرور ورسره مخ شو.
هر انسان په دې ژوند کې له ډېرو خپګانونو سره مخ کېږي او ترڅنګ یې له ډېرو خوښیو هم برخمنېږي.
په خوښۍ او خپګان کې زموږ چلند زموږ د شخصیت مهمه برخه ده. ځینې خلک د خوشالۍ په ترلاسه کولو له کنټروله وځي او د خپلې خوښۍ د څرګندولو هغه طریقې غوره کوي چې د الله تعالی نه خوښېږي.
په همدې ډول د خپګان پر مهال هم چیغې او فریاد پیلوي. له قرآن کریم او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له سیرت څخه د دې چارې په اړه دا لارښوونه په لاس راځي، چې د خوښۍ پر مهال د الله تعالی شکر ادا شي او د غم او خپګان پر مهال صبر وشي. رسول الله صلی الله علیه وسلم به د خوښۍ پر مهال الله تعالی ته رجوع کوله، لمونځ به یې کاوه، صدقه او خیرات به یې کاوه او د قربانۍ په ورکولو به یې خپله خوښي څرګندوله.
په اخترونو کې یې له دې امله د فطر صدقه او قرباني پر وس لرونکو

لازمه گرځولې ده.
په همدې توگه هغه صلی الله علیه وسلم زیاتره وخت له سختو خپگانونو سره هم مخ شوی دی.
په دېوو کې د طایف د اوسېدونکو سرکشي، په احد غزا کې د ۷۰ صحابه کرامو رضي الله عنهم شهادت، د هغه صلی الله علیه وسلم د لوڼو سیدتنا زینت او رقیې رضي الله عنهما او زامنو مړینه او نور شامل دي.
د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سیرت له مطالعې څخه دا معلومېږي، چې په دې ډول حالت کې به یې الله تعالی ته رجوع کوله او صبر یې کاوه.
همدا لامل دی چې په دین کې په داسې ټولو وختونو کې فریاد او چیغې وهل، ژړا او گرېوان شکول منع دي.

# مینه او کرکه

مینه او کرکه هم د انسان د شخصیت مهم اړخ دی. موږ زیاتره وخت ډېر شیان خوښوو یا یې نه خوښوو.
همدا احساس یو څه شدت پیدا کوي، په مینه او کرکه بدلېږي او بیا تر دې هم لوېږي، د عشق او سختې کرکې بڼه غوره کوي.
که دا احساسات په خپلو طبیعي حدودو کې پاتې شي، بیا سم دي؛ خو په دېوو کې له حدودو څخه تېری د انسان شخصیت په ناوړه توګه داغداره کوي.
تاسو به حتمن ډېر داسې خلک لیدلي وي چې د عشق یا کرکې د شدت ښکار کېږي او خپل ټول ژوند تباه کوي یا ترې بېخي لاس مینځي. په خپلو حدودو کې د دې احساس د ساتلو طریقه دا ده چې د دېوو مخ واړول شي او سم لوري ته سیده شي.
د انسان د مینې محور او مرکز باید د الله تعالی هستي وي، چې انسان یې پیدا کړی دی او د هغه هرې اړتیا ته داسې پام کوي چې بل هیڅوک یې نه شي کولای. ځینې انسانان ډېر ناشکره وي او له خپل رب سره شریک جوړوي، له هغوی سره مینه پیلوي.

الله تعالی فرمايي:
**﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ﴾** (البقره: ١٦٥)
ژباړه: «او (له دې نښو سره) ځينې داسې خلک هم شته چې له الله سره (په عبادت کې) سيالان نيسي او د الله هومره مينه ورسره کوي؛ خو مؤمنانو ته (د مشرکانو تر مينې چې له خپلو معبودانو سره يې لري) الله ډېر ګران دی».
له الله تعالی سره د مينې مهم شکل د رسول الله صلی الله عليه وسلم مينه ده.
محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله تعالی بنده او وروستی رسول دی.
له هغه صلی الله عليه وسلم سره له مينې پرته ايمان نه شي کاملېدلی او دا پخپله له الله تعالی سره مينه ده.
د دې مينې په اړه زموږ په ټولنه کې د افراط او تفريط کړنې تر سترګو کېږي.
ځينې خلک په خپل کمعقلتوب کې د محمد صلی الله عليه وسلم مينه د الله تعالی له مينې بېله ګڼي او بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم له الله تعالی سره پرتله کوي.
دا خلک خو له يوې خوا رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپلې مينې په اغراق کې له الله تعالی سره شريکوي او بلې خوا د شخصي مينې پر ادعا سربېره د هغه صلی الله عليه وسلم د لارښوونو

پیروي هم نه کوي، حال دا چې له پیروۍ پرته مینه یوازې دروغ او چل دی.
په همدې توګه ځینې نور خلک د رسول الله صلی الله علیه وسلم مینه یوازې اتباع سنت ګڼي او له هغه صلی الله علیه وسلم سره د مینې شخصي اړیکې ته هیڅ ارزښت نه ورکوي.
دا دواړه لارې غلطې دي. چېرته چې د محمد صلی الله علیه وسلم له سپېڅلي ذات سره مینه او درناوی یو ستر نعمت دی، هلته د دې خبرې غوښتنه هم ده چې په خپلو ټولو چارو کې د هغه صلی الله علیه وسلم پیروي وشي.
د دې مینې یو بل ښاخ د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له کورنۍ او د هغه له صحابه کرامو رضي الله عنهم سره مینه ده، چې هیڅ مسلمان ترې انکار نه شي کولای؛ خو په دې برخه کې هم باید له هر ډول افراط څخه ډډه وشي، تر څو دا ستر نعمت راته د شرک په بلا وانهوړي.
کله چې انسان خپله مینه له الله تعالی، د هغه له ښکلي رسول صلی الله علیه وسلم، د هغه صلی الله علیه وسلم له کورنۍ او صحابه کرامو رضي الله عنهم سره پیل کړي، نو بیا له دې دنیوي مینو څخه خلاصون موندل کېږي.
دا په دې معنا نه ده چې له مورو پلار، مېرمنې او بچیانو سره دې مینه نه کېږي.
دا مینې هم د انسان په طبیعت کې داخلې دي؛ خو دا ټولې مینې باید

د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د مینې تابع شي.
د کرکې د احساس هم همدا حال دی.
کله چې د کرکې احساس غلط وکارول شي، نو انسان تخریبوونکی او وېرووونکی کېږي او د ځان په ځېر انسانانو په وینه خپل لاسونه سره کوي.
د دې سم استعمال دا دی چې هغه د بدیو پر ضد په کرکه بدل شي.
د یوه مؤمن بنده په نظر کفر او فساد لوري ته تلل باید په اور کې تر سوځېدو ډېر د کرکې وړ وي. زموږ په دین کې د همدې خبرې غوښتنه شوې ده.
دې احساس ته هم ځینې وخت غلط رنګ ورکول کېږي، له بدیو کرکه تر انسانانو پورې غزوي. کرکه باید له بدیو وشي، له بدو انسانانو ونه شي.
یو مسلمان باید د دین او اخلاقو دعوتګر وي، دا په بدیو کې ښکېل شخص خپل ورور وګڼي او د اصلاح کولو هڅه یې وشي، نه دا چې هغه بد وګڼل شي، په خپلو ګناهونو کې پرېښودل شي او هغه په خپلو بدیو کې نور هم ډوب شي.
باید دې خبرې ته پام وکړو چې له موږ څخه هم ډېر ګناهونه کېږي.
عیسی علیه السلام بني اسرائیلو ته څومره ښه نصیحت وکړ چې دې ګناهګار ته دې هغه څوک سزا ورکړي چې پخپله یې هیڅکله دا ګناه نه وي کړې.
له دې اصولو څخه یوازې هغه خلک استثنا دي چې په ډېرو زیاتو

جرمونو کې ښکېل وي او نه غواړي چې توبه هم ورڅخه وکړي او په همدې جرمونو کې ککړتیا د ژوند مقصد ګڼي.
په ژوند کې هغه ملګري انتخاب کړئ، چې مینه خوروي او له کرکې تښتي.
که تاسو ته نږدې د داسې منفي ذهنیت لرونکي خلک موجود وي چې تل د نورو د کرکې په اور کې سوځي او غواړي چې دا اور نورو ته هم ولېږدوي، نو له هغو څخه په بشپړه توګه ځان وساتئ، کنې ستاسو د شخصیت په تباه کولو به هم صرفه ونه کړي.

# اخلاص

اخلاص يا خلوص زموږ د شخصيت هغه اړخ دی چې د شتون له امله نور خلک پر موږ باور کولای شي.
د نيت پاکوالی او سوچه‌والی د اخلاص په معنا ده.
د نيت دا خلوص له الله تعالی سره هم کېدای شي او له بندګانو سره هم.
له الله تعالی سره د نيت د خلوص مطلب دا دی چې انسان هر نېک عمل کوي، يوازې او يوازې به يې د الله تعالی د رضا لپاره کوي، په دې کې به يې هيڅ دينوي ګټه په پام کې نه وي.
له بندګانو سره خلوص دا دی چې د انسان په نيت کې هيڅ ډول خيری نه وي او د ټولو خير غوښتونکی وي.
د الله تعالی لپاره چې کوم اعمال کېږي، په دېوو کې د نيت پاکوالی دومره مهم دی چې محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم ټول اعمال په نيت پورې تړلي دي او دا يې هم فرمايلي دي چې کوم کس د کومې موخې لپاره کار کوي، همغه به ترلاسه کوي.
که څوک د مال، شتمنی يا شهرت د ترلاسه کولو لپاره د جهاد په

ځېر غوره عمل هم کوي، نو همغه به ترلاسه کړي او د الله تعالی په نزد به یې هیڅ اجر نه وي.
د یوه بل حدیث مطابق هغه خلک چې قرآن کریم د ستاینې لپاره تلاوت کوي، په ټولنه کې د لوړ مقام جوړولو لپاره سخاوت کوي او د شهرت لپاره د جهاد په څېر عمل کوي، په اخرت کې به هیڅ اجر ترلاسه نه کړي او جهنم به یې په برخه شي.
کله چې یو عمل د الله تعالی د رضا لپاره ونه شي، نو اجر ولې ورکړي.
همدا لامل دی چې ریاکارۍ ته شرکِ اصغر ویل شوی دی. له انسانانو سره خلوص محمد صلی الله علیه وسلم له خیرغوښتنې سره تعبیر کړی دی.
مشهور حدیث دی چې «الدین نصیحة» یعنې دین د خیرغوښتنې نوم دی.
د یوه مؤمن بنده کار دا دی چې له نورو سره په خیرغوښتنې مخ شي.
هغوی ته پام وکړي او حقوق یې پوره ادا کړي. څوک چې داسې نه کوي، هغوی به په دې دنیا کې هم له ذلت سره مخ کېږي او د الله تعالی په نزد به هم له دې خوارۍ پرته څه ترلاسه نه کړي.
موږ ټول غواړو چې نور خلک دې راسره مخلص وي، په همدې توګه نور خلک هم دا هیله لري چې موږ ورسره مخلص اوسو.

# وېره

وېره هم د انسان یو طبیعي احساس دی. انسان له ټولو هغو شیانو وېرېږي چې زیان ورته رسولی شي. همداراز انسان د هر ناخوښ وضعیت له رامنځته کېدو وېرېږي.
که دا احساس په نورمال حالت کې پاتې شي، نو له ټولو خطرونو څخه د ژغورنې د مناسبو تدابیرو په غوره کولو له هغو څخه په خوندي پاتې کېدو مجبوروي؛ خو که له حد څخه لوړ شي، نو بیا د یوې ارواېي ناروغۍ بڼه خپلوي.
د نورو احساساتو په څېر د اسلام دین د دې احساس مخ هم سم لوري ته برابروي. دین چې له موږ څخه د کومو ځانګړنو غوښتنه کوي، له هغو څخه یوه له الله تعالی وېره ده.
دا وېره داسې نه ده لکه ځینې خلک چې له پېریانو وېرېږي. د الله تعالی وېره په اصل کې د یوې محبوبې هستۍ له خپګان څخه وېره ده. څوک چې د الله تعالی مینه پر ټولو مینو غوره ګڼي، هغه یې له خپګان څخه وېرېږي او له هر داسې عمل څخه ډډه کوي چې د هغه د خپګان لامل کېږي.

د الله تعالی وېره د نورو ټولو شیانو له وېرې څخه انسان ژغوري. د دې دا مطلب هم نه دی چې انسان له هر څه بېخي بېوېرې کېږي، بلکې د الله تعالی وېره سړي ته هغه حوصله ورکوي چې په وسیله يې انسان د هرې وېرې او خطر مقابلې ته چمتو کېږي.

له صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه چې ځینو په خندق غزا کې د کفارو لوی لښکر ولید، نو سخته وېره ورباندې راغله؛ خو د الله تعالی وېرې او مینې هغوی د دې لوی لښکر په مقابل کې راپورته کړل. الله تعالی په خپلې اسماني مرستې سره مؤمنانو ته په دې مقابله کې بریا ور په برخه کړه.

# حیرانتیا او لټون

د انسان د شخصیت یو اړخ حیرانتیا هم ده. کله چې یو داسې شی ویني، چې توجیه یې نه شي کولای، نو حیرانیږي. همدا حیرانتیا لټون زیږوي.

له پخوا زمانې راهیسې مذهبي طبقې د انسان دا احساس ترلاسه کړی دی. کله چې په کوم اسماني افت اخته کېدل، نو دا به یې د خدایګوټو او نورو له خپګان سره توجیه کوله او په ډول ډول وهمونو به یې حیرانتیا ختموله.

زموږ دین د دې ټولو وهمونو په ختمولو د کایناتو غوره عقلي توجیه شونې کړه. څرنګه چې د نوي ساینس په وسیله د انسان علم ډېرېده، هغوی د کایناتو د همدې توجیه په منلو مجبوریږي، چې دا کاینات یو خدای لري. که د لټون او څېړنې احساس په مثبته طریقه وکارول شي، نو د انسان د علم د زیاتوالي لامل کیږي. ساینس دا ټول پرمختګ د لټون د همدې احساس په وسیله کړی دی. د دې برعکس که د هغو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره وکارول شي، چې هیڅ هدف ونه لري، نو دا په یوه بلا بدلیږي.

زموږ په ټولنه کې د یو بل جاسوسي کول او د شخصي حالاتو او نیمګړتیا د معلومولو لټون ډېر ترسترګو کېږي. موږ الله تعالی له دې ټول لټون څخه منع کړي یو او د یو بل د شخصیت له داغداره کولو څخه یې ایسار کړي یو. ﴿**يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا**﴾(الحجرات:١٢)

ژباړه: «ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو له ډېرو (بدو) ګمانونو نه ځان وساتئ، بېشکه ځینې ګمانونه ګناه ده او پټ عیبونه مه لټوئ او ستاسو ځینې دې د ځینو نورو غیبت نه کوي»

د یوه حدیث مطابق یوه کس د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته غلي وروکتل، نو محمد صلی الله علیه وسلم وربانديې ډېر خپګان څرګند کړ. که موږ دا احساسات په ښه ډول کنټرول کړو، نو خپل شخصیت د غوره اخلاقو بېلګه ګرځولی شو.

# لومړیتوبونه

لومړیتوبونه هم د انسان د شخصیت مهم اړخ دی، چې له وخت سره بدلیږي. هر انسان د خپلو حالاتو مطابق ځینې شیانو ته پر نورو لومړیتوب ورکوي.
د انتخاب دا اصول په ټول ژوند کې اړین دي. د دنیوي ژوند په اړه د دین غوښتنه دا ده چې په هره چاره کې اخلاقي اړخ ته ترجیح ورکړل شي او که په یوه شي کې له اخلاقي پلوه بدوالی نه وي، نو په دې کې انسان ازاد دی چې هر یوه ته یې زړه غواړي، لومړیتوب دې ورکړي.
د دنیا په پرتله آخرت (چې اصلي ژوند دی) ته لومړیتوب ورکول د دین او عقل دواړو له پلوه ډېر اهمیت لري. څوک چې دنیا ته پر آخرت لومړیتوب ورکوي، داسې ده لکه څوک چې د یوې افغانۍ د ترلاسه کولو لپاره ملیاردونه افغانۍ تاوان کوي.
موږ باید د لومړیتوب دا اصول د خپل شخصیت برخه وګرځوو چې کوم شی راته په دنیا او آخرت کې ډېر ګټور دی، هغه غوره کړو او که له داسې وضعیت سره مخ شو، چې که د آخرت جوړولو هغه

پکې وکړو، نو په دنیا کې حالات خرابېږي او که د دنیا جوړولو هڅه وکړو، نو آخرت مو وربانديې تباه کېږي، نو بیا په هر حال کې آخرت ته لومړیتوب ورکړئ.
د دې مثال دا دی چې که چا ته د حرام مال د ترلاسه کولو فرصت په لاس ورغلی وي، په دې صورت کې خو د دنیا ترلاسه کولو ښه فرصت دی؛ خو په دې کار به یې آخرت تباه شي. په داسې حالاتو کې د عقل غوښتنه دا ده چې آخرت ته پر دنیا لومړیتوب ورکړل شي؛ ځکه چې د دنیا ژوند څو کاله دی او آخرت ابدي ژوند دی.

# د زغم ځواک

د انسان د زغم ځواک هم د هغه د شخصیت مهم اړخ دی. په دې دنیا کې په ځلونو داسې کیږي چې حالات مساعد نه وي یا نور خلک زموږ په خوښه چلند نه غوره کوي.
په داسې وختونو کې چې څوک له کنټروله وځي، هغه د کمزوري شخصیت خاوند بلل کیږي. د دې برعکس څوک چې له ستونزو سره په زغم او سړه سینه مبارزه کوي، هغوی د خپلو نږدې ملګرو په نظر کې مهم مقام ترلاسه کوي.
د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د زغم قوت ډېر لوړ و. د کفارو د ظلم او تېري په ځواب کې به یې هغوی ته دعاګانې کولې او هیڅکله به یې هم له دښمنانو څخه شخصي غچ نه اخیسته.
هسې خو ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناسته پاسته کړې وه او د زغم خاوندان شوي وو؛ خو د معاویه رضي الله عنه زغم او حوصله د متل په څېر مشهور دی. دا د هغه د زغم قوت و، چې په وسیله یې شل کاله د والي او شله کاله د خلیفه په توګه خپلې وړتیاوې څرګندې کړې او د دنیا د تر

ټولو لوی هیواد د واکمن په حیث يې خپل مسؤلیتونه ترسره کړل.
عامو خلکو به هم مخامخ وربانديې سخته نیوکه کوله؛ خو هغه به په ورین زغمله.

د هغه د همدې ځانګړنې پر اساس عمر رضي الله عنه د نورو والیانو برعکس هغه هیڅکله لرې یا بدل نه کړ. د زغم د قوت زیاتول کافي ستونزمن کار دی. حللاره يې دا ده چې کوچنیو خبرو ته ډېر اهمیت ورنه کړل شي او په اړه يې ډېر فکر ونه شي. که په دې چارو کې ستاسو د خوښې خلاف څه وشي، نو هغو ته پام مه کوئ.
څوک چې کوچنۍ ستونزې نه زغمي، د خپلو ملګرو په نظرونو کې خپل مقام راټیټوي. د زغم د زیاتولو لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د اصحابو کرامو رضي الله عنهم سیرت مطالعه کړئ او د داسې خلکو ملګرتیا غوره کړئ چې ډېر زعم او حوصله ولري.
که ستاسو په ملګرو کې داسې کسان موجود وي، چې په هره خبره راپاریږي، نو ځانونه ترې لرې وساتئ.

# صبر او شکر

انسان که شتمن وي او که غریب، ختیځوال وي که لوېدیځوال، ښه وي که بد، مسلمان وي که کافر، پر هغه داسې وخت هم راځي چې له مصیبتونو سره مخ کېږي، د دنیا حالات ورته سختېږي.
د دې برعکس داسې هم کېږي چې انسان ته رنګارنګ نعمتونه او خوښۍ ورکول کېږي، ارام او سوکالي یې په برخه کېږي. د اسلام دین راته په لومړي حالت کې د صبر او په دویم حالت کې د شکر ادا کولو امر کوي.
صبر په اصل کې د انسان د زغم د ځواک پایله ده. څوک چې ډېر زغم لرونکی او د پراخې سینې خاوند وي، هغومره صبرناک وي.
شکر د انسان د ځان سپارنې نوم دی.
کله چې د الله تعالی له لوري له ښو حالاتو سره مخېږي، نو ناشکره انسان یې د خپلو هڅو او وړتیاوو پایله ګڼي او پر خپلو بریاوو داسې جشن نمانځي چې په ډاګه د الله تعالی نافرماني کوي. د دې برعکس یو مؤمن بنده پوهېږي چې دا یوازې او یوازې د هغه د رب ډالۍ ده، په دې حالت کې یې هیڅ نافرماني نه کوي او اوامرو ته یې

سر ټيټوي.
د ځينو بزرګانو په اند د شکر منزل له صبر څخه ډېر سخت دی. په مصيبتونو کې خو له انسان سره له صبر پرته بله هيڅ چاره نه وي؛ خو د خوشحالۍ پر مهال ورته دواړه لارې خلاصې وې، که وغواړي صبر کوي کنې نه يې کوي.
د مامون الرشيد معتصم بالله په دوره کې پر امام احمد بن حنبل رحمه الله د مصيبونو انبارونه له پاسه وو او سختې بدني او اروايي شکنجې ورکړل شوې. هغه ورباندې ډېر صبر وکړ.
تر معتصم وروسته چې کله د متوکل علی الله دوره راغله، نو هغه ورباندې د انعاماتو او مهربانيو باران وکړ. دا وخت هغه وويل چې زما لپاره دا ازمېښت تر پخواني هغه څخه ډېر سخت دی. حقيقت دا دی چې دا د انسان له شخصيت سره اړيکه لري.
د ځينو خلکو لپاره د صبر او د ځينو لپاره د شکر ازمېښت اسانه وي.
رسول الله صلی الله عليه وسلم به د صبر او شکر په دواړو وختونو کې لمونځ کاوه او صبر او شکر به يې کاوه. په سختو مصيبتونو کې به يې هم اړيکه له الله تعالی سره ټينګه وه او په برياوو کې به يې هم د اړتيا غاړه خپل رب ته ټيټه وه.
له طايف څخه د ستنېدو پر مهال چې کله پر محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم تېرې ورېدلې او سخت بدني او ذهني زيان ورته ورسېد، بيا يې هم يوازې الله تعالی ته دعا وکړه او کله چې يې د مکې د فتحې پر مهال زړور لښکر په فاتحانه بڼه مکې ته داخلېده، نو د

نړۍ د فاتحینو برعکس د هغه صلی الله علیه وسلم غاړه د شکر له احساساتو سره دومره ټیټه وه چې سر مبارک یې د اوښې له بوکان سره لګېده.

د شکر غوره طریقه دا ده چې الله تعالی کوم نعمت درکړی دی، د هغه په خوښۍ کې خپل هغه ورونه هم له ځانه سره شریک کړئ چې له دې نعمت څخه بې‌برخې دي.

د بېلګې په توګه د ښې دندې په ترلاسه کولو صدقه ورکړئ. که په خپل واده کې مصرف کوئ، نو یوه برخه یې خپلې هغې خور ته هم ورکړئ چې یوازې د مال د کمښت له امله له خپل کور څخه بې‌برخې ده.

# ټیمي روحیه

د یوه عملي انسان وینا ده: «یوازې ټیم یې ګټلی شي». دا حقیقت ده چې انسان په یوازې ځان کوم لوی کار نه شي کولای؛ ځکه ښايي په یوه کس کې د یوه لوی کار د ترسره کولو حوصله وي؛ خو یاد کس له ټولو اړینو وړتیاوو ډېر کم برخمن وي.

د بېلابېلو وړتیاوو؛ خو د ګډ فکر او مزاج لرونکي وګړي په ګډه د ټیم په صورت کې لویې لویې کارنامې ترسره کولای شي. ټیمي روحیه دا ده چې په ګډه د یوه هدف لپاره هڅه وشي.

داسې هیڅکله نه کیږي چې د یوه ټیم ټول غړي دې ډېره وړتیا ولري. په داسې وختونو کې وړ کسان دا مسؤلیت لري چې خپلو کمزورو ملګرو ته هم لاس ورکړي او له ځان سره یې روان کړي، تر څو د مورال د بایللو له امله شاته پاتې نه شي.

که د دې موخې لپاره وړ کسان دې ته هم مجبور شي چې خپل سرعت یو څه راکم کړي، نو په دې کې کوم بدوالی نشته. د ټیم په بریاوو کې دې ټول شریک کړل شي او هیڅوک دې نورو ته پښې نه بږدي او په خپله دې د مخته تلو هڅه نه کوي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صحابه کرامو رضي الله عنهم ژوند زموږ لپاره د ټیمي روحیې غوره بېلګه ده. د ژوند او کاروبار، د کفارو د ظلمونو او تېريو، له جګړو سره د مخ کېدو یا د مهاجرینو د استوګن کولو او دې ورته ټولو موضوعاتو کې د داسې ټیمي روحیې مثال ترلاسه کېږي چې په بل هیڅ ډلې کې به ترلاسه نه شي.

دا د لوړ شخصیت لرونکي کسان هر پېټی په ګډه پورته کوي او خپل هیڅ ملګری شاته نه پرېږدي. هره خوښي له یو بل سره شریکوي. حتا چې د خوراک څښاک د شیانو په برخه کې هم نورو ته پر ځان لومړیتوب ورکوي. د دې ټولو غوره مثال هغه وخت په لاس راځي چې کله د «مواخات مدینه» پر اساس محمد صلی الله علیه وسلم یو یو مهاجر د یوه یوه انصاري ورور وګرځاوه.

په دې وخت چې انصارو کومه سرښندنه څرګنده کړه، هغه د اسلامي تاریخ ځلانده باب دی. په ځان کې د ټیمي روحیې د رامنځته کولو طریقه دا ده چې له خپل زړه څخه د بې‌رحمۍ د لرې کولو هڅه وشي او د نورو لپاره په خپل زړه کې د خیرغوښتنې احساسات رامنځته شي.

د ټیم نورو غړو ته د خیرغوښتنې او نېکۍ احساسات رامنځته کړئ.
ان‌شاءالله په پایله کې به یې نور غړي هم تاسو ته همداسې احساسات ولري.

په ټولنیزو کارونو کې تر ټولو لویه ستونزه دا ده چې ځینې وخت ټیم

د انسان شخصي ازادي سلبوي، چې په پایله کې یې د اختراعي وړتیاوو پر څرګندولو بندیز رامنځته کېږي.
په غوره ټیمونو کې هیڅکله شخصي ازادي نه سلبېږي او د نظر اختلاف ته درناوی کېږي. که خدای مه کړه تاسو له همدې ډول ټیم سره تړاو پیدا کړئ، نو د اصلاح هڅه یې وکړئ او که داسې امکان ونه لري، نو دا ټیم پرېږدئ او له یوه داسې ټیم سره یوځای شئ چې هلته د وړتیاوو د غوړولو حالات مساعد وي.

# پر ځان یا نورو انحصار

هر څوک باید دا کوښښ وکړي چې لږ تر لږه خپل بوج پخپله پورته کړي او تر یوه بریده د نورو د پېټې د پورته کولو هڅه هم وکړي. څوک چې پر دې وړتیا سربېره پر نورو د انحصار چلند غوره کوي، هغه ته په هره ټولنه کې د ذلت په سترګه کتل کېږي.
که څه هم پر ځان د تکیې لپاره زیار ته اړتیا ده او د تکلیفونو زغمل پکې شته؛ خو په وسیله یې په ټولنه کې لوړ مقام ترلاسه کېدای شي. دا خو ښکاره خبره ده چې هر څوک خپلې ټولې اړتیاوې په یوازې ځان نه شي پوره کولای.
هغه د ډېرو اړتیاوو لپاره د نورو مرستې ته ضرورت لري. په داسې وختونو کې غوره کړنلاره دا ده چې د هغه شخص د اړتیاوو د پوره کولو یو څه کوښښ تاسو هم وکړئ چې هغه ستاسو ځینې اړتیاوې در پوره کوي.
د بېلګې په توګه که مېرمن په ډېر اخلاص د خپل مېړه خدمت کوي، نو مېړه هم مسؤلیت لري چې کار وکړي، د کور او د هغې نفقه ورته راوړي او اړتیاوې یې پوره کړي. په همدې ډول مورو پلار د خپل

اولاد لپاره زحمتونه ګالي، اولاد ته یې هم په کار ده چې د هغوی خدمت وکړي.
که یوه ملګري په سخته ورځ د بل ملګري لاسنیوی کړی وي، نو هغه بل ته هم ښایي چې په هره سخته کې خپل دغه ملګری یوازې پرېنږدي.
د پر ځان تکیې لپاره دا اړینه ده چې خپل شخصیت له اروایي، ټولنیز او په ځانګړې توګه له اقتصادي پلوه زیات پیاوړی شي او په ځان کې غوره ځانګړنې وروزل شي، تر څو پر نورو تکیه راکمه شي.

# ځان غوښتنه

ځان غوښتنه زموږ په ټولنه کې په منفي معنا اخیستل کېږي. حقیقت دا دی چې خپل ځان ته اهمیت ورکول او پر نورو غوره ګڼل په هر حال یو طبیعي احساس دی.
کله چې انسان ډوبېږي، نو تر هر څه وړاندې د ځان د ژغورلو کوښښ کوي. په همدې توګه د د بېوزلۍ پر مهال هر څوک لومړی د خپلو اړتیاوو د پوره کولو فکر کوي.
که دا احساس په همدې طبیعي حدودو کې پاتې شي، نو په دې کې هیڅ عیب نشته؛ خو که له حد څخه واوړي، نو د یوه شخص منفي انځور وړاندې کوي.
څوک چې د خپلې کوچنۍ غوښتنې لپاره د نورو اساسي اړتیاوې قرباني کړي، ټول ورته ځان خوښوونکی وایي. د بېلګې په توګه که د کوم غریب بچیان له لوږې مري او بل کس د هغوی پروا ونه کړي، په لوکسو او قیمتي هوټلونو کې خوندور خوراکونه کوي، بلکې ضایع کوي یې، نو دې کس ته ځان خوښی ویل کېږي.
که وکتل شي، نو د انساني اخلاقو په رڼا کې دا ډېر بد عمل دی.

زموږ دين موږ د خپلو اړتياوو او غوښتنو له پوره کولو څخه نه يو منع کړي، بلکې د خپلې ټولنې د هغو وګړو د اړتياوو د پوره کولو سپارښتنه يې راته کړې چې په اقتصادي منډو تړړو کې تر نورو شاته پاتې شوي وي. عثمان رضي الله عنه په مدينه منوره کې په زرګونه درهمو د اوبو څاه پېرلې او د مينې اوسېدونکو ته يې وقف کړې وه. هغه د داسې بې‌غرضۍ لوړ مثال دی.

داسې ډېر مثالونه د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د ملګرو په سيرتونو کې موندل کېږي. د يرموک جګړې د پېښې په اړه به معلومات لرئ، چې د ژوند په وروستيو سلګيو کې يوه ټپي د بل تندې ته پر خپلې هغې لومړيتوب ورکړ او دويم د درېيم تنده پر خپلې لومړۍ کړه.

که موږ غوره اخلاقي ژوند تېرول غواړو، نو له نورو سره د مرستې احساس به د خپل شخصيت اړينه برخه ګرځوو.

# د رهبرۍ وړتیاوې

له پخوانۍ زمانې راهیسې دا فکر عام و چې د رهبرۍ وړتیاوې ارثي دي او دا په خاص نسل پورې ځانګړې دي. د ارواپوهنې نویو څېړنو دا فکر ناسم ثابت کړی دی.
په هر کس کې په طبیعي توګه د مشرۍ وړتیاوې موجودې وي. هو، داسې ضرور کېږي چې په ځینو وګړو کې دا وړتیاوې ډېرې او په ځینو کې کمې وي. د مناسبې روزنې په وسیله دا وړتیاوې غوړېدای شي.
دا ناسم پوهاوی هم باید لرې شي چې رهبري یوازې په سیاسي یا دیني رهبرانو پورې ځانګړې ده، بلکې د ژوند په هر ډګر کې چې ټولنیز کار ته اړتیا وي، د رهبرۍ اهمیت پکې څرګند دی.
د رهبرۍ په وړتیاوو کې د نورو د اغېزمنولو، هغوی ته د لارښوونې، هڅونې، پرېکړې کولو، په اغېزناکه بڼه د خپلې خبرې د کولو وړتیا، ځیرکتیا، جذبه او ولوله، امانتداري، زړورتیا، پر ځان باور او په نوې بڼه د ستونزو د حلولو وړتیا ډېر اهمیت لري.
په کومو خلکو کې چې د نورو په پرتله دا وړتیاوې ډېرې پرمختللې

وي، هغوی په عموم کې ښه رهبر ثابتېږي.
په خپل شخصیت کې دې وړتیاوو ته د پرمختګ ورکولو یوه تګلاره نه شي بیانېدای. د هرې وړتیا د روزلو ډېرې طریقې دي. دلته د ځینو وړتیاوو په اړه په لنډ ډول څو ټکي وړاندې کوو، د نورو وړتیاوو په اړه په نورو برخو کې بحث شوی دی.
له نورو سره د خواخوږۍ، خلوص او مینې چلند غوره کړئ، بې ځایه نیوکه، کرکه، د نورو بې‌عزتي کول د ښه رهبر لپاره وژونکي زهر دي.
د نورو د اغېزمنولو لپاره په دې لیکنه کې د شخصیت بېلابېل ورکړل شوي اړخونه اصلاح کړئ. تاسو به نور خلک په غوره توګه اغېزمن کړی شئ.
د نورو د لارښوونې لپاره خپل علم او عقل زیات کړئ. له علم پرته نورو ته لارښوونه کول عیسي علیه السلام داسې بللي لکه ړوند چې چا ته لاره ورښیي.
د نورو د هڅولو لپاره دا ساده اصول خپل کړئ چې هر شخص څو هڅوونکي لري. که تاسو یې د غوښتنو د پوره کولو هیله ورکړئ، نو هغه هڅول کېدای شي.
د دې مثال دا دی چې هر انسان د ژوندي پاتې کېدو لپاره ډوډۍ، جامو او کور ته اړتیا لري. همدا غوښتنه یې کار کولو ته مجبوروي.
په هر انسان کې ډېر هڅوونکي تر سترګو کېږي، چې په هغه کې پر اساسي اړتیاوو سربېره خوندیتوب، لټون، بوختیا، ترلاسه کول، تړاو،

رتبه، قوت، خواخوږي، سرښندنه او نور شامل دي.
د یوه ښه رهبر کار دا دی چې وګوري د ټیم غړي یې د کوم احساس پر اساس هڅول کېدای شي او د خپلو وسایلو مطابق یې په کار راولي او هڅولی یې شي.
د سمې پرېکړې کولو وړتیا له تجربې سره رامنځته کېږي. په پیل کې انسان باید د خپل علم مطابق ښه پرېکړه وکړي.
له تجربې سره به زده کړي چې په کومو حالاتو کې کومه پرېکړه سمه ده. د دې موخې لپاره د تجربه لرونکو خلکو مشورو ته هم ډېره اړتیا ده.

دې خبرې ته پام کول هم ډېر اړین دي چې په دیني چارو کې د خپلې رهبرۍ غوښتنه کومه خبره نه ده. که څه هم دیني رهبري د لوړ درجې نعمت دی؛ خو دا ډېر لوی امتحان هم دی. انسان ته په کار ده چې په دین کې د رهبرۍ غوښتنه ونه کړي، بلکې په عاجزۍ د دین خدمت وکړي.
که الله تعالی یې په دې امتحان کې واچوي، نو په ټول توان دې د ورداخلېدو هڅه وکړي. موږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضي الله عنهم له سیرتونو څخه همدا لارښوونه په لاس راځي.

# خپلوي

ځان د انسانانو له یوې ډلې سره تړلو ته خپلوي یا عصبیت وايي. که وکتل شي، نو دا یو طبیعي احساس دی او د همدې په وسیله ټولنه رامنځته کېږي.

انسان تل ځان په یوې کورنۍ، قوم، قبیلې، ښار، سیمې، هېواد یا دین پورې تړلی ګڼي او هڅه کوي چې خپلې ډلې ته خدمتونه وکړي. د ابن خلدون په وینا د قومونو د رامنځته کېدو بنسټ خپلوي یا عصبیت دی.

په قرآن کریم کې الله تعالی د انسان دا احساس منلی دی او په اړه یې لارښوونې هم کړې دي: ﴿**يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ**﴾(الحجرات: ۱۳)

ژباړه: «ای خلکو! بېشکه موږ تاسو له یوه سړي او له یوې ښځې پیدا کړي یئ او موږ تاسو څانګې او قبیلې ګرځولي یئ، د دې لپاره چې تاسو یو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نزد په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زیات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار

دی».

که د عصبیت احساس په خپلو حدودو کې وساتل شي، نو په برکت یې انسان د ټولنیز ژوند د تېرولو وړ کېږي؛ خو که د تعصب بڼه ورکړي او نورې ټولنیزې ډلې سپکې وګڼي، نو همدا احساس ورته په مصیبت بدلېږي.

که موږ خپلې ټولنې ته وګورو، نو ډول ډول تعصبات پکې موندل کېږي. خلک عموماً پر خپل نصب ویاړي او نور توکمونه سپک ګڼي. ښکاره ده چې دا تصور د هند د نیمې وچې په مسلمانانو کې له نسل پرسته قومونو څخه راغلی دی.

د همدې تصور پر اساس ځینې خلک له نورو نسلونو سره ودونه نه کوي. دا خلک هېروي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې درې لونې په غیر سادات قوم کې واده کړې وې.

په همدې توګه علي، حسن او حسین رضي الله عنهم د خپلو ډېرو لونو او زامنو ودونه یوازې او یوازې د علم او تقوا پر اساس په غیر سید کورنیو کې کړي وو.

په اسلام کې هیڅ نسب پر بل غوره نه دی. ځینې خلک د یوه بزرګ شخصیت د اولاد کېدو له امله ځان غوره او نور کم ګڼي، حال دا چې دا خبره بېخي روښانه ده چې هر انسان د دوو جلیل القدره نبیانو آدم او نوح علیهما السلام اولاد دی.

د قرآن کریم دا آیت په دې برخه کې ډېر واضح دی. د کورنۍ او قبایلو رامنځته کولو موخه یوازې پېژندګلوي وه، د دې پر اساس

هیڅوک پر نورو غوره نه دي؛ ځکه د انسان دا ځانګړنې غیر اکتسابي دي.
که د کوم شخص نیکونه ډېر ښه خلک وو، نو په دې کې د دې شخص څه کمال دی یا که په نیکونو کې یې کوم بد شخص تېر شوی و، نو په دې کې د ده څه ګناه ده؟ د فضیلت معیار خو د هغه پخپلو کارنامو کې دی.
که هغه خپل ژوند د الله تعالی د بیان کړې لارې پر اساس نه تېروي، نو پر نورو د برترۍ هیڅ حق نه لري. که څوک نېک او پرهېزګاره وي، نو بیا هم پر نورو د خپلې برترۍ بیانولو هیڅ حق نه لري. هغه ته چې کوم عزت ورکړل شي، هغه په الله تعالی پورې اړه لري. پر نسب سربېره زموږ په ټولنه کې د مسلکونو هم ډېر تعصب تر سترګو کېږي.
په عامه توګه خلک په لاس کارکوونکي ډېر سپک ګڼي. د دې برعکس په عربانو کې هیڅ مسلک سپک نه ګڼل کېږي. همدا لامل دی چې هلته ډېر شتمن خلک خپل پلرني مسلکونه د بېلګې په توګه خیاطي او نور په ډېر ویاړ له خپل نوم سره لګوي.
د اسلام دین هر ډول روا کسب ته د عزت مقام ورکوي او رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه څوک د الله تعالی دوست ګڼلی دی، چې زیار ګالي او حلاله روزي ګټي.
په قبایلي سیمو کې په ځانګړې توګه قبایلي تعصب عام دی. د یوه شخص د قتل په جرم کې د هغه د قبیلې بل شخص وژل کېږي. د

پلار او نیکه دښمنی یې تر لمسیو او کړوسیو پورې رسېږي او بیا دا دښمني تر راتلونکو نسلونو پورې روانه وي.

دا تعصب په خپله د مسلمانانو د بېلابېلو فرقو ترمنځ په ډېر شدت سره موجود دی. هره فرقه ځان ته هدایت شوې او نورو ته گمراه وايي. هیڅوک دې ته چمتو نه دي چې د نورو نظر واوري. حتا د دیني مدرسو او جوماتونو نظام هم په فرقو ولاړ دی، چې هلته د اسلام نه، بلکې د خپلې فرقې ملاتړي پیدا کېږي. د اسلام دین هر ډول تعصبونه ختم کړل او خپلوي او ملاتړ یې یوازې او یوازې په حق او ناحق پورې محدود کړل.

اسلام د انسانیت نسل یوازې په دوو ډلو وېشي، د الله تعالی منونکې ډله یعنې حزب الله او د دې په مقابل کې سرغړوونکې ډله یعنې حزب الشیطان.

څوک چې د الله تعالی ډلې ته ورداخلېږي، پر هغه لازمېږي چې د شیطان په ډله کې شاملېدونکي د دعوت او تبلیغ په وسیله د الله تعالی ډلې ته راوستل شي.

که موږ غواړو چې ښه مسلمانان شو، نو باید په خپل شخصیت کې د عصبیت او ملاتړ دا ټول بریدونه لمنځه یوسو او تر روا بریدونو یې محدود کړو.

# د قانون رعایتول

د اسلام د دین مزاج دا دی چې بې‌قانوني او انارشي ډېره بده ګڼي او خپلو منونکو ته د یوه ټولنیز نظام پر اساس د ژوند کولو سپارښتنه کوي. دین موږ ته په ټولو داسې احکامو او قوانینو کې د خپل حکومت د پیروۍ بلنه راکوي، چې د الله تعالی د احکامو خلاف نه وي. د دې موضوع په اړه امین احسن اصلاحي په خپلو کتابونو «اسلامي ریاست» او «تزکیه نفس» کې په ډېر تفصیل سره رڼا اچولې ده. دلته یې د بیان کړو ټکو یو لنډیز وړاندې کوو.
روښانه دې وي چې په دې موضوع کې د اصلاحي صاحب دریځ د اسلامي امت د زیاترو علماوو د نظر مطابق دی.
د الله تعالی پر احکامو د عمل کولو یا نه کولو له پلوه حکومتونه په څلور ډوله دي:
لومړی ډول هغه حکومت دی چې په هغه کې د الله تعالی د ټولو احکامو پابندي کېږي او د اسلام دین د قانون په توګه ټینګ شوی وي. د دې حکومت په اړه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېرې روښانه لارښوونې کړې دي، چې په هر حال کې دې د داسې

حکومت پیروي وشي او د دې نافرماني د الله تعالی نافرماني ده.
د داسې حکومت پیروي نه کوونکي د جاهلیت په مرګ مړه کېږي.
د بشري غوښتنو مطابق په داسې حکومت کې څو نیمګړتیاوې هم رامنځته کېدای شي، پر دې سربېره د دې حکومت نافرماني روا نه ده، بلکې د دې نیمګړتیاوو پر ضد د غږ پورته کولو امر دی.
دویم ډول حکومت هغه دی چې په هغه کې په ظاهره د اسلام نوم اخیستل کېږي او په ځینو چارو کې یې پیروي هم کېږي؛ خو ترڅنګ یې پکې ظلم او فساد هم تر سترګو کېږي.
د اوسني وخت په زیاترو مسلمانو هېوادونو کې همداسې حکومتونه رامنځته شوي دي. د داسې حکومتونو په اړه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم روښانه لارښوونه کړې ده چې تر هغه وخته دې د دوی پیروي وشي، تر څو چې د الله تعالی د حکم خلاف امر ونه کړي.
د ظلم او فساد پر ضد غږ پورته شي او د ټولنې او حکومت د اصلاح غوښتنه وشي. د دا ډول حکومتونو پر ضد وسلوال بغاوت روا نه دی. د قانون په دایره کې په اوسېدو سره د بدو پر ضد هڅه کول په هر حال پر مسلمانانو په ټولنیزه توګه لازم دي.
درېیم ډول حکومت د کافرانو حکومت دی، چې هلته مسلمانانو ته د خپل دین او خصوصي حقوقو په اړه بشپړه ازادي وي. که له یوه مسلمان سره داسې انتخاب وي، چې له دې ځایه په هجرت کولو په یوه داسې ځای کې ژوند غوره کولای شي چې هلته ورته اسلامي چاپېریال برابر وي، بیا سمه ده، که دا امکان نه وي، نو په دې ټولنه

کې دې په اوسېدو سره په خپل دین عمل وکړي او په دنیوي چارو کې دې د حکومت پیروي وکړي.
د داسې حکومت پر ضد هم وسلوال بغاوت سم نه دی. دا داسې ده لکه د چا موروپلار چې کافران وي، پر هغه لازمه ده چې له هغوی سره د عدل او احسان چلند روان وساتي، د دین په برخه کې د هغوی مداخله ونه مني.
په اوسني وخت کې د غربي هېوادونه حکومتونه د دې مثال دی.
څلورم ډول حکومت هغه دی چې په هغه کې مسلمانان د خپل دین په اړه ازادي ونه لري، بلکې د کفر اختیارولو ته مجبور شي، ولو که واکمن یې کافر وي او که تش په نامه مسلمان وي. د نږدې تېر وخت شوروي اتحاد د همدې ډول حکومتونو مثال دی، چې هلته پر دین عمل کوونکي مجبورېدل چې خپل دین پرېږدي.
په داسې صورت کې د مسلمانانو مخ ته درې لارې دي:
۱. هجرت، ۲. وسله واله مبارزه، ۳. صبر.
په اوسني وخت کې د وېزې د بندېزونو له امله د یوې ټولنې لپاره هجرت کول شوني نه دي. تر کومه ځایه چې د جهاد اړیکه ده، دا په دې خبرې پورې تړاو لري، چې کوم ازاد مسلمان حکومت دې ته چمتو دی که نه. له دې پرته حالات ډېر مهم دي.
که حالات داسې وي چې په حکومتي کچه د وسلوالې مبارزې په وسیله ظلم او جبر ختمېدای شي او تر معقول حد پورې د دې مبارزې د بریا امکان شته، نو دا کوښښ کېدای شي؛ خو که د

وسلوالې مبارزې په پایله کې یوازې انارشي او ګډوډي رامنځته کېږي او د حالت د اصلاح کېدو کوم څرک نه تر سترګو کېږي، نو د امکان تر حده دې د خپل ایمان د ساتلو هڅه وشي؛ ځکه چې په اسلام کې بېقانوني او انارشي تر ظلم او جبر څخه لوی جرم دی.

د بېقانونۍ او انارشۍ په پایله کې محدوده اندازه ظلم پراخې اندازه ته خورېږي او بیا هر څوک د خپل قوت پر اساس په دې بهېدونکي سمندر کې لاسونه مینځي.

د عامو خلکو پر شتمنۍ بدمعاشان ولکه کوي، د ښځو عزتونه خوندي نه پاتې کېږي او مجرمان منظم کېږي.

د صبر په غوره کولو او له خپلې ټولنې څخه د جلا کېدو په وسیله د خپل ایمان د خوندیتوب یو ښه مثال د اصحاب کهف دی، چې د خپل دین او ایمان د ساتلو لپاره یې له ښار څخه دباندې غار ته لاړل. الله تعالی د هغوی د دې هڅې ډېره ستاینه وکړه.

د خپل شخصیت د ښه کولو لپاره اړینه ده چې په ځان کې د قانون درناوی رامنځته کړو او که دا د الله تعالی د احکامو پر ضد نه وي، نو پابندي یې وکړئ. د انارشۍ او ګډوډۍ رامنځته کوونکو ته په هیڅ ټولنه کې په ښه سترګه نه کتل کېږي.

# ظاهري بڼه او بدني روغتیا

د انسان د شخصیت یو بل مهم اړخ د هغه ظاهري بڼه او شکل دی. دا هم د نورو په اغېزمنولو کې ډېر اهمیت لري.

ښکلا یا بدرنګي د انسان په واک کې نه ده؛ خو څه چې د الله تعالی له لوري راکړل شوي دي، په هغو کې په خپلو هڅو کمښت یا ډېرښت راوستل کېدای شي.

د اسلام دین چې چېرته د انسان د باطني شخصیت د تزکیې او پاکوالي لپاره امرونه کړي دي، هلته یې د هغه ظاهري بڼې ته هم ډېر اهمیت ورکړی دی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو یوه لویه برخه په همدې اړخ پورې تړاو لري. هره ورځ پنځه ځلې اودس کول، تر کوروالي وروسته حتمن غسل کول، د نوکانو او وېښتانو کمول، د خولې، پزې او غوږونو پاکول، پاکې جامې اغوستل، تر خوړو مخته او وروسته لاسونه مینځل، دا ټول هغه څه دي چې له سلګونو کلونو راهیسې زموږ د دین لازمي برخه ده. ابراهیم علیه السلام ته هم د دې شیانو امر شوی و.

د معاصرې دورې د ژوند کولو اصول هم راته د همدې خبرو

سپارښتنه کوي. پر ظاهري بڼې سربېره بدني روغتیا هم د شخصیت مهم اړخ دی.
که انسان روغ نه وي، نو یو کار هم په سمه بڼه نه شي ترسره کولای. دین د خپلې روغتیا ساتنې ته ډېر اهمیت ورکړی دی او له ټولو داسې شیانو یې ایسار کړی دی، چې د روغتیا لپاره زیان لرونکي وي. په خپلو لاسونو ځان تباه کول په هیڅ صورت سم نه دي.
د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صحابه کرامو رضي الله عنهم چلند د دې افراط او تفریط ترمنځ پر اعتدال ولاړ و.
د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه حدیث ډېر مشهور دی چې په هغه کې په وړې خېټه د خوراک کولو سپارښتنه شوې.
زموږ په چاپېریال کې څوک پر اس او اوښ څو کیلو متره سفر نه شي کولای؛ خو صحابه کرام رضي الله عنهم دومره تکړه وو چې سلګونه میله سفر به یې پر اوښانو او اسونو کاوه. په هغوی کې لویې لویې ناروغۍ ډېرې کمې موندل کېدې.
د هغوی بوډاګان هم دومره تکړه وو چې پر اسونو به کېناستل، څو کیلو درنې تورې به یې جیګولې او د جګړو مشري به یې کوله. په را وروسته دورو کې هم همدا لېوالتیا روانه وه. پخوانیو خلکو حتا پاچاهانو به دومره سخت ژوند تېراوه، چې زموږ په ټولنه کې یې عام انسان هم نه تېروي.
د خپلې بدني روغتیا د غوره ساتلو لپاره ښه طریقه دا ده چې د روغتیا ساتنې پر اصولو په کلکه عمل وشي، د خوراک په برخه کې له

افراط او تفریط څخه ډډه وشـي. که امکان یې وي، نو د ځوانۍ له دورې راهیسې دې هر کال د خپل ځان ټیسټ کولو عادت رامنځته شي، تر څو لویې ناروغۍ په لومړني ستېج کې تشخیص شـي او په اسانۍ یې درملنه وشـي.

د دې ټولو شیانو ترڅنګ ورزش او د خپلې لوبې کول هم روغتیا ته ډېره ګټه لري. زموږ په ټولنه کې زیاتره ناروغۍ په منځنۍ عمر کې رامنځته کېږي، له دې امله په دې دوره کې باید ټولو هغو شیانو ته بشپړ پام وشـي چې روغتیا ته مهم دي.

که انسان خپله ځوانۍ او د عمر منځنۍ دوره سالمه تېره کړي، نو په بوډاتوب کې به هم ورته ډېره اسانتیا وي او له لویو لویو ناروغیو به خوندي پاتې شـي.

# چُستي (Agility)

د یوه کس د ظاهري شخصیت مهمه برخه د هغه چُستوالی او تندرستوالی هم دی. ځینې خلک پر ښه روغتیا سربېره بیا هم لټ او سست وي. دا چاره د هر انسان پر شخصیت بد اغېز ښندي او هغه په نورو چارو کې هم بد ګڼل کېږي.

محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له سستۍ او لټۍ څخه د خوندیتوب دعا غوښتله. که د هغه صلی الله علیه وسلم پاک سیرت مطالعه شي، نو معلومېږي چې ټول ژوند یې په ډېر تکړهتوب د خپلو مسؤلیتونو په ترسراوي کې تېر شوی دی او تر مړینې څو ورځې مخکې ناروغۍ پرته هم په کومې لویې ناروغۍ نه و اخته شوی. په ځان کې د چستۍ د راپیدا کولو طریقه دا ده چې هره ورځ ورزش وشي او د خپل ذوق او وسایلو مطابق په بدني لوبو کې برخه واخیستل شي.

# قرباني

قرباني د انسان له غوره ځانګړنو څخه ده. د خپلو اړتیاوو پرېښودل او د نورو اړتیاوې پوره کول د غوره احساس د لرلو پر مهال امکان لري. که په ځان کې دا ځانګړنه رامنځته کړای شئ، نو دا به د الله تعالی یو لوی نعمت وي.

که موږ خپلې شاوخوا ته نظر وکړو، نو ډېر داسې خلک به ووینو چې دا احساس پکې وي. تاسو به لیدلي وي چې په ټولنه کې د داسې خلکو ډېر عزت کېږي.

په رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضي الله عنهم کې دا احساس دومره زیات و چې په خپله به وږي وو؛ خو نورو ته به یې خواړه ورکول او دا چاره پکې ښېخې عامه و.

په قرآن کریم کې الله تعالی په خپله لاره کې د خپلو ګرانو شیانو د قرباني کولو سپارښتنه کړې ده: ﴿**لَن تَنَالُواْ ٱلبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ**﴾ (آل عمران: ۹۲)

ژباړه: «تاسو تر هغې نېکي نه شئ موندلی، تر څو پورې چې (د الله په لار کې) هغه شی مصرف نه کړئ، چې تر ټولو ډېر درته محبوب وي».

په ځان کې د قربانۍ د احساس رامنځته کولو طریقه دا ده چې انسان

غور وکړي په دنیا کې څومره خلک د نورو لپاره قرباني کوي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صحابه کرامو رضي الله عنهم د پېښو مطالعه دا احساس لوړوي.

د قربانۍ رښتینی خوند هغه وخت په برخه کېږي چې کله یې انسان په عملي ډول ترسره کوي. د خپلې اړتیا شی له ځان څخه ډېرو اړمنو ته ورکړئ، له هغه ترلاسه کېدونکي خوښی به مو زړه ارام او خوښ کړي.

په پیل کې د لویو صدقو ورکولو او قربانیو ورکولو هڅه مه کوئ، بلکې په کوچنیو شیانو یې پیل کړئ. که موږ د شهرت، نوم، ځان ښودنې یا کومې دنیوي ګټې د ترلاسه کولو لپاره قرباني وکړو، نو دا قرباني به هسې لاړه شي او الله تعالی به هیڅ اجر رانه کړي.

# د برترۍ او د کمترۍ احساس

ځینې انسانان ډېر بد عادت لري. کله چې د الله تعالی له خوا یو نعمت ورکول کېږي، نو پر هغو د شکر ادا کولو پرځای هغه د خپلو هلوځلو پایله ګڼي.
د خپلو بریاوو په خیال کې ځان تر نورو غوره ګڼي. د نورو سپک ګڼل او له هغو سره ښه چلند نه کول د هغوی عادت وي. موږ به په خپله شاوخوا کې ډېرې داسې کړنې ووینو.
د غرور او کبر په لویو لاملونو کې مال او شتمني، لویه دنده، نسب او تر ټولو لوی علم او دینداري شامل دي.
په نویو ښاري ټولنو کې اوس د نسب غرور یو څه راکم شوی دی؛ خو په کلیوالي ټولنو کې نن هم تر سترګو کېږي. د مال او شتمنۍ غرور نن هم په همغه ډول دی. د علم او دیندارۍ کبر هغه دی چې تر ډېره وربانديې هغه خلک اخته کېږي چې دین لوري ته لېواله وي. ځینې کم فکره عالمان ځان پر نورو ډېر غوره ګڼي او هغوی ته په سپکه سترګه ګوري او په هره خبره کې د جاهل کلمه په ډېره کرکه وایي.
ځینې خلک د خپل عبادت په ګومان کې ټول خلک ګناهګار ګڼي او په ټولو پسې خبرې کوي، هغوی، کافر، مشرک، بدعتي، بېادبه

او نور څه ګڼي.
د اسلام دين داسې ډېرې کړنې په کلکه ردوي او دا وايي چې الله تعالی کبرجن خلک نه خوښوي: ﴿**إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ**﴾ (النحل: ۲۳) ژباړه: «بېشکه، الله تعالی کبر کوونکي نه خوښوي».
ځوک چې پر ځمکه په کبر او ناز ګرځي، د هغو په اړه په قرآن کريم کې راغلي دي: ﴿**وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا**﴾ (بني اسرائيل: ۳۷)
ژباړه: «په ځمکه کې وياړلی (په تکبُّر سره) مه ځه، ته نه ځمکه څیرولای شې، نه د غرونو هسکوالي ته رسېدلای شې».
د برترۍ د احساس يا د غرور او تکبر برعکس ځينې خلک د کمترۍ په احساس اخته کېږي. دا عموماً هغه خلک وي چې له يوې لويې ماتې سره مخ شوي وي. هغه مورو پلار چې خپل ماشومان تر ډېر فشار لاندې راولي، په هغو کې د کمترۍ احساس ډېر پيدا کېږي. په دې ناروغۍ اخته خلکو کې د ارادې او پرېکړې ځواک کمزوری وي. د برترۍ او کمترۍ دواړه احساسات د يوه کس پر شخصيت ډېر بد اغېز ښندي.
يو کبرجن شخص په ټولنه کې عزت او مقام بايلي. که څوک يې عزت هم کوي، نو يوازې د هغه مخامخ يې کوي، د هغه په نشتون کې ورباندې ټوکې او ملنډې وهي يا يې بد يادوي.
په همدې توګه د کمترۍ په احساس اخته شخص له نورو سره له ليدو کتو وېرېږي او په يوازېتوب کې پاتې کېږي.
د اسلام دين موږ ته د کبر او غرور په مقابل کې د عاجزۍ، او د

کمترۍ د احساس په مقابل کې د ځان درناوي فکر راکوي. د عاجزۍ مطلب د کمترۍ احساس نه، بلکې د الله تعالی په وړاندې د خپلې ناتوانۍ او کمزورۍ اعتراف دی.

یو عاجز انسان خپله هره بریا د خپلو وړتیاوو پایله نه، بلکې د خپل رب فضل ګڼي او هغه ته سر په سجده کېږي. نورو ته هغه مقام ورکوي چې پخپله یې لري. د اسلام دین موږ ته د یو بل د عزت کولو امر کوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم د الوداع حج په خطبه کې د یوه انسان عزت د کعبې د حرم په څېر قدرمن بللی دی.

د کمترۍ په احساس اخته کس باید فکر وکړي چې په ټول ژوند کې ایله یو ځل ناکام شوی دی؛ خو په ځلونو ځلونو بریالی شوی هم دی. دا چې په دنیا کې روغ رمټ ګرځي راګرځي، همدا ورباندې د الله تعالی فضل دی، شیخ سعدي څه ښه درس راکړی دی، چې که څوک بوټان نه لري، هغوی دې د بوټانو پښو کوونکو ته نه ګوري، بلکې هغو ته دې وګوري چې پښې نه لري.

د برترۍ د احساس درملنه په خپله اخته کس کولای شي؛ خو د کمترۍ په احساس د اخته کسانو درملنه د هغه ملګري او خپلوان هم کولای شي.

که ستاسو ملګری یا خپلوان د کمترۍ په احساس اخته وي، نو هغه ته ډاډ ورکړئ او د بریالي ژوند شوق پکې رامنځته کړئ. ستاسو دا نېکي به هیڅکله ضایع نه شي او د یوه انسان ژوند به ورباندې ښکلی شي. دې خبرې ته مو پام وي چې دا کار باید په ډېره مهربانۍ او مینه ترسره شي، د پېغور ورکولو له طریقې بشپړه ډډه وکړئ.

# ښه اخلاق

ښه اخلاق د انسان هغه ځانګړنه ده چې هغه په خپله ټولنه کې محبوب ګرځوي.
موږ دا په ځلونو وینو چې څوک بد اخلاقه شخص ته ورنږدې کېدل هم نه خوښوي، د هغه له دوکان څخه سودا نه اخلي، د هغه تر لاس لاندې کار نه کوي.
قرآن کریم موږ ته له نورو سره په ښو اخلاقو د خبرو کولو سپارښتنه کوي.
په هره خبره تور او شین اوښتل او بدې ردې ویل په یوه ټولنه کې هم ښه نه بلل کېږي.
د دین د عوت په ډګر کې ښه اخلاق بېخي ډېر مهم دي ؛ خو عجیبه خبره دا ده چې زموږ د اسلام په دعوتګرو کې دا ځانګړنه کمه تر سترګو کېږي. کله چې دوی چا ته د دین دعوت ورکوي، نو طرز یې داسې وي چې نور خلک دې سملاسي د هغوی خبره ومني، کنې هغه به یې جهنم ته ورسوي. د ځینو دیني ډلو د کارکوونکو طرز داسې وي مهرباني وکړئ دا کار وکړئ.

حال دا چې له چلند او طرز څخه يې معلومېږي چې موږ څه ډول وايو، که ويې نه کړئ، نو موږ بيا پوهېږو چې څه ډول يې درباندې وکړو. په ځان کې د ښو اخلاقو د رامنځته کولو لپاره اړينه ده چې په خپل ذهن کې مثبتو فکرونو ته وده ورکړل شي.

هر وخت د ټولنې نيمګړتياوو ته ګوته نيول او نورو ته په کتو کتو سوځېدل په انسان کې کرکه او غوسه رامنځته کوي. که د يو چا نيمګړتيا تر سترګو هم شي، نو هغه ته پام مه کوئ او ښېګڼو ته يې ځير شئ.

په همدې توګه د ټولنې پر نيمګړتياوو سربېره د هغې ښېګڼو ته هم پام وکړئ او د خوښۍ فرصتونه ولټوئ. هر وخت خوښ اوسئ. خپله لهجه نرمه او مهربانه وساتئ او له غوسه ناکو او بداخلاقو خلکو ځان لرې وساتئ.

# په خبره پوهېدل

زموږ په ټولنه کې چالاکي او هوښیاري په منفي معنا تعبیرېږي او چالاک او هوښیار انسان ښه نه بلل کېږي. د دې ذهني چلند برعکس په ټولنه کې هر څوک د چالاک او هوښیار کېدو په هڅه کې بوخت وي. زموږ په اند هوښیاري د انسان یوه مثبته ځانګړنه ده. د هوښیارۍ مطلب دوکه بازي نه ده، بلکې د نورو له فرېبونو ځان ساتل دي.

دې ته په خبره پوهېدل او په مطلب رسېدل وایي. انسان باید د دین او دنیا دومره علم ولري چې کوم مداري یې دوکه نه کړي. زموږ په ټولنه کې یوازې له دنیوي لحاظه دوکه باز خلک موجود نه دي، بلکې داسې خلک هم ډېر موندل کېږي چې د دین په نامه خلک تېرباسي او خپل دمونه ورباندې پخوي.

په خبره او مطلب پوهېدل په انسان کې د علم او تجربې په وسیله رامنځته کېږي. له همدې امله ویل کېږي چې تجربه هیڅ بدیل نه لري. که تاسو په خپله پوهه، ځیرکتیا او تجربه کې د زیاتونې هڅه کوئ، نو په خبره او مطلب پوهېدل به په خپله درکې رامنځته شي.

په پیل کې په تېره په دیني چارو کې د نورو له تېرېستلو څخه د ځان ژغورنې طریقه دا ده چې په پټو سترګو په چا پسې د تلو کوښښ مه کوئ، بلکې څو مختلفو خلکو ته وګورئ، د هغوی خبرې واورئ او په خپل عقل سره پرېکړه وکړئ.
دا هم ضرور وګورئ چې کوم خلک پخوا په دې لاره تللي دي، هغوی څه ډول خلک دي. آیا مخلص دي، چالاک او هوښیار خلک دي که یوازې ړانده تقلید کوونکي دي.
په دې چاره کې د خپلو میندو او پلرونو، استادانو او مخلصو ملګرو مشورو ته هم اهمیت ورکړئ. په دې خبره پوه شئ چې که یو دیني یا سیاسي رهبر غواړي چې تاسو له خپل شخصیت سره وتړي، تاسو د نورو خلکو د کتابونو له مطالعه کولو منع کوي، د نظر د اختلاف اجازه نه درکوي، نو هغوی له تاسو سره مخلص نه دي.
هغوی غواړي چې تاسو خپل غلامان کړي. له داسې خلکو څخه لرې اوسېدل ډېر اړین دي. تاسو ته په کار ده چې خپل ځان پراخ وساتئ او د نقد په بڼه خپل رهبران هم وارزوئ، تر څو له تاسو ناوړه ګټه وانخلي.

# افراط

په ځینو خلکو کې د افراط فکر او کړنې تر سترګو کېږي. دا خلک په هر کار کې د افراط په کولو عادت وي. دا افراط په دیني چارو کې ډېر واضح دی. که په دین کې د یوه کار کمه غوښتنه شوې وي، نو دوی یې نوره هم ورپسې ډېروي. په دیني او دنیوي چارو کې له افراط څخه ډېرې ستونزې رامنځته کېږي او نورې ډېرې چارې له پامه غورځول کېږي.
خپل شخصیت له دې ډول چلند څخه پاک وساتئ او خپل کارونه په اعتدال ترسره کړئ. زموږ په ټولنه کې چې د افراط کومې بڼې تر سترګو کېږي، د هغو یو نوملړ دلته وړاندې کېږي، تر څو له هغو سره محتاط اوسو او اعتدال اختیار کړی شو.
۱. په عباداتو او دیني کارونو کې دومره افراط چې انسان خپل دنیوي مسؤلیتونه او د خلکو حقوق هېر کړي.
۲. په دنیاپرستۍ کې دومره ډوبېدل چې آخرت او د هغه غوښتنې بېخي هېرې شي.
۳. له حکومت سره بې‌دلیله لاس پنجې وهل.
۴. د نورو د نظر د اورېدو پرځای هغوی ته پېغورونه ورکول او تاپې ورباندې لګول.
۵. په بېلابېلو پلمو پر نورو ظلم او تېری کول او د هغوی حقونه نه ورکول.

# د اړیکو وړتیاوې

انسان ټولنیز ژوند لري او دا یې اساسي اړتیا ده چې نور خلک له خپلو فکرونو، اندونو، غوښتنو او اړتیاوو څخه خبر کړي. دې ځانګړنې ته د اړیکو وړتیا ویل کیږي. په ځینو وګړو کې دا ځانګړنه د نورو په پرتله ډېره پرمختللې وي. اړیکې په عموم کې په درې ډوله دي:

۱. ګړنی، ۲. لیکنی، ۳. غیر لفظي

دا درې ډوله وړتیاوې اصلاح کېدای شي.

د دې وړتیاوو د اصلاح کولو لپاره غربیانو ډېر کار کړی دی او د لوړې درجې کورسونه یې ډیزاین کړي دي. په بازار کې د دې موضوع په اړه ډېر کتابونه هم شته، چې غږیزې او ویډیویي بڼې هم ورسره موندل کیږي.

# د خطرونو په اړه چلند

ځینې خلک په طبیعي توګه خطرونه خوښوي او په خپلو شخصي او کاروباري چارو کې د خطر له منلو ډډه نه کوي.
د دې برعکس ځینې خلک ډېر محتاط طبیعت لري او هر قدم په ډېر احتیاط اخلي. د دې دنیا هیڅ کار له خطر منلو پرته شونی نه دی. که له کور څخه دباندې قدم اخلو، نو په دې کې هم د ژوند بایللو خطر شته.
د خطر منلو په اړه په ډېرو خلکو کې د افراط او تفریط کړنې تر سترګو کېږي. ځینې خلک په لوبو کې خپل ځان له خطر سره مخ کوي او داسې لوبې کوي چې د مرګ خطر پکې ډېر زیات وي. داسې خلک په غربي ټولنه کې ډېر تر سترګو کېږي.
د دې برعکس ځینې خلک له اړتیا پرته ډېر محتاط وي او له خپل ژوند څخه عذاب جوړوي. لکه د یوه ښاغلي په اړه چې مشهور دي چې هغه له دې وېرې تر چتې پکې لاندې نه کېناسته، چې هسې نه ورباندې راونه لوېږي. هیڅکله به یې په الوتکه کې د رالوېدو له ډاره سفر نه کاوه. د خطرونو په اړه سمه کړنلاره دا ده چې تر یوه مناسب

حد پورې خطر ومنل شي او خپل ژوند تېر شي. د کومو خطرونو امکان چې ډېر وي، له هغو څخه د ژغورل کېدو مناسب تدابیر دې هم ونیول شي او تر مناسب بریده دې احتیاط هم وشي.
ځینې وخت خطر پخپله د انسان تولید هم وي، چې لوی مثال یې قمار دی. د دې خطر په پایله کې یو کس له ډېرو زیاتو پیسو څخه بې‌برخې کېږي او بل ورڅخه برخمنېږي؛ خو ټولنې ته هیڅ ګټه نه لري. له طبیعي خطرونو څخه ژغورل کېدل خو د انسان په وس کې نه دي؛ خو له دې ډول مصنوعي خطرونو څخه ژغورل کېدای شي.
همدا لامل دی چې قمار زموږ په دین کې ګناه بلل شوې ده. د دې برعکس په صنعت او سوداګرۍ کې هم طبیعي خطر شته، چې د انسان په واک کې نه دي. د دې په پایله کې ټولنې ته ډېره ګټه هم رسېږي. همدا لامل دی چې په دین کې تجارت حلال او قمار حرام بلل شوی دی.

# خوښېدل او نه خوښېدل

هر انسان یو شی، شخص، نظر یا کړنه خوښوي یا یې نه خوښوي او وخت په وخت یې څرګندونه هم کوي.
د خوراک څښاک ځینې شیان، نظرونه، افکار او کړنې د ځینو خوښېږي او د ځینو نه خوښېږي.
دین په دې برخه کې کوم بندیز نه دی لګولی چې تاسو کوم ځانګړی شی خوښ کړئ یا یې خوښ نه کړئ.
دا موضوع حتمي ده چې الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې خبرې خوښوي او ځینې نه خوښوي.
د الله تعالی د خوښې شیان د نېکۍ کړنې دي او په ناخوښه شیانو کې د کفر او ګناه کارونه دي. د یوه مؤمن مسؤلیت دی چې په هره چاره کې دې ټکو ته پام وکړي. د کومو شیانو په اړه چې الله تعالی کوم حکم نه دی کړی، هغه مباح کار دی. له دېوو څخه هر کس له ذوق، طبیعت، خوښېدو او نه خوښېدو څخه په کار اخیستلو د ځان لپاره شیان، ملګري، نظرونه او افکار انتخابولی شي.
دې خبرې ته هم باید پام وشي چې که زموږ د خوښېدو یا نه

خوښېدو شیان د ټولنې د خوښېدو یا نه خوښېدو له معیارونو سره په ټکر کې وي، نو ژوند درته تنګېدلی شي.
د بېلګې په توګه زموږ په ښاري ټولنه کې یو ډول ځانګړې جامې دود دي. که موږ پکې کلیوالي جامې واغوندو، نو زموږ د شخصیت ډېر عجیب انځور به ښکاره شي. په همدې توګه په کلیوالي سیمو کې د ښاري جامو اغوستل هم ټکرونه رامنځته کولی شي.
چېرته چې د الله تعالی نافرماني نه کېږي، هلته له دلیل پرته له ټولنې سره د ټکر پالیسي سم کار نه دی.

# د احساساتو د څرګندولو طریقه

د احساساتو څرګندول د هر انسان طبیعي حق دی. هر څوک چې په کومه طریقه خپل احساسات څرګندوي، هغه یې د شخصیت برخه ګرځي. ځینې خلک د خوښۍ پر مهال له کنټروله وځي، حال دا چې ځینې نور بیا په ډېره عزتمنه طریقه خوښي نمانځي. په همدې ډول د غم او خپګان پر مهال ځینې خلک فریادونه کوي او ګرېوانونه شکوي؛ خو نور خلک وربانديې صبر کوي.

په همدې ډول د حیرانتیا، غوسې او نورو احساساتو څرګندونه هر انسان په جلا طریقه کوي. په دې اړه مو د صبر او شکر په موضوع کې کافي بحث کړی دی. دلته یوازې دومره زیاتول اړین دي چې د احساساتو پر مهال باید ځان کنټرول شي او په عزتمنه بڼه خپل احساسات څرګند شي.

# غیبت

د غیبت مطلب دا دی چې د یوه شخص په نشتون کې د هغه عیبونه بیان شي. دا هغه بدي ده چې زموږ د ټولنې په رګونو کې خوره شوې ده. زموږ په دین کې دا خبره ډېره بده ګڼل کېږي، چې د یو چا عیبونه دې رابرسېره شي او په ټولنه کې چې کوم مقام لري، له هغه څخه یې د راغورځولو هڅه وشي.
دا کار دومره بد دی لکه یو څوک چې د خپل ورور غوښه خوري.
زموږ د غیبت عادت د نورو په شخصیاتو کې له لېوالتیا او لېوالتیا څخه سرچینه اخلي. که موږ غواړو چې له دې بد عادت څخه خلاص شو، نو باید دا عیب لټونې لمنځه یوسو. که غواړو چې ښه شخصت ولرو، نو په دې خبره درېدل اړین دي چې د نورو په چارو کې مداخله ونه کړو. د غیبت په اصولو کې استثنا یوازې یو صورت لري، هغه دا دی چې که موږ پوه شو یو کس بل ته د زیان رسولو هڅه کوي، نو په دې اړه د هغه په خبرولو کې کوم ممانعت نشته.
همداراز څوک چې په ټولنه کې یو مهم مسؤلیت لري؛ خو ناوړه ګټه ترې اخلي، نو هغه بد بیانول غیبت نه دی، تر څو ټولنه یې له شر څخه خوندي وساتل شي.

# جذبه او ولوله

د هر کار په کولو کې جذبه او ولوله لازمه برخه ده او له دې پرته هیڅ کار نه شي بشپړېدلی. د هر نیک او ګټور کار لپاره باید ولوله او جذبه ولرو او په نورو کې یې راپیدا کړو. په همدې توګه په بدیو او هر ډول ناوړه کارونو کې باید له جذبې او ولولې څخه ډډه وکړو.
ولوله او جذبه یو منفي اړخ هم لري او هغه دا دی چې ځینې خلک په جذبه کې له ټولو بریدونو تېرېږي او د هیڅ شي پروا نه کوي.
مثال یې دا دی چې څو کسانو له الله تعالی سره د نږدېوالي په جذبه کې دنیا پرېښوده او ځنګلونو ته ووتل.
له دې منفي اړخ څخه باید تل ډډه وشي. د جذبې په اړه یوه بله مهمه خبره دا ده چې ځینې خلک په جذبه کې یو کار پیلوي او نورو اړخونو ته یې پام نه کوي؛ خو څه موده وروسته یې چې دا جذبه سړېږي، نو له هغه څخه بېخي لاس په سر کېږي.
په پایله کې یې شخصیت د نورو په ذهنونو کې بې‌باوره کېږي او د همدې تجربې له امله ورته نور خلک کم اهمیت ورکوي. کله چې له موږ سره د کوم کار جذبه وي، نو باید تر پیلولو وړاندې یې ټول مثبت او منفي اړخونه وارزوو او کله چې یې پیل کړو، باید تر اخره یې ورسوو.

## له ځانه خبرتیا

د شخصیت جوړونې لپاره اړینه ده چې انسان د خپل شخصیت له ټولو اړخونو څخه خبر وي.
پوهانو د خپل شخصیت د ارزونې ډېرې طریقې وضع کړې دي.
دلته یوازې یوه طریقه بیانوو، چې زما په اند ډېره ګټوره ده.
دې ته SWOT Analysis ویل کېږي. د SWOT کلمه د Strengths، Weaknesses، Opportunities او Threats لنډیز دی.
په عموم کې کاروباري ادارې په خپلو اوږدمهالو او لنډمهالو پلانونو کې دا طریقه غوره کوي.
زما په اند دا شننه د خپل ځان او شخصیت په جوړونه کې هم همغسې ګټوره ده لکه د کاروباري ادارو لپاره چې ګټور ده.
د دې تحلیل دوه لومړني عوامل د انسان له خپل شخصیت سره تړاو لري.
پیاوړتیا یې د شخصیت د قوت ټکي او کمزورتیا یې د شخصیت د ضعف ټکي دي. پاتې دوه عوامل یې له چاپېریال سره تړاو لري.

فرصتونه د هغه په چاپېریال کې له شته داسې شیانو سره تړاو لري، چې په شخصیت جوړونه کې یې مرستندوی ثابتېدلی شي.

له Threats څخه مطلب هغه خطرونه دي چې د هغه د شخصیت جوړونې په پروګرام کې خنډ رامنځته کولای شي.

لاندې یو چوکاټ درکول کېږي، چې په هغه کې د شخصیت د ټولو اړخونو نوملړ درکړل شوی دی او له هغو څخه د هر اړخ SWOT Analysis هم شوی دی.

د دې موخې لپاره د مثال په توګه د یوه عام انسان د فرضي شخصیت شننه وړاندې کېږي. له تاسو هیله لرو چې یوازې کېنئ، همداسې یو چوکاټ جوړ کړئ او د خپل شخصیت لپاره یې بشپړ کړئ.

دې خبرې ته پام وکړئ چې دا شننه حقیقت ته نږدې کړئ او په کومه چاره کې ځان له حقیقت څخه زیات یا کم مه څرګندوئ، کنې له ډېرو ستونزو سره به مخ شئ.

تر دې وروسته له خپل موروپلار، استادانو او ملګرو د خپل شخصیت د بېلابېلو اړخونو په اړه نظرونه وغواړئ او په همدې ډول چوکاټ کې یې ولیکئ.

د شخصیت په اړه مو خپل نظر د هغوی له نظرونه سره پرتله کړئ. دا دوه ګټې لري:

یو خو به د خپل شخصیت د هغه اړخ په اړه هم معلومات ترلاسه کړئ چې ستاسو ور پام شوی نه دی او بل دا چې تاسو ته به د نورو په ذهن کې خپل انځور معلوم شي.

نر دې وروسته د خپل انځور د اصلاح کولو او غوره ګرځولو لپاره نور اړین ګامونه هم اخیستلی شئ.

| د شخصیت اړخونه | مثبت اړخونه (Strengths) | کمزوري اړخونه (Weaknesses) | فرصتونه (Opportunities) | خطرونه (Treats) |
|---|---|---|---|---|
| ځیرکتیا | منځنۍ کچه | | له ځیرکو خلکو سره د ناستې پاستې فرصت | |
| ذهني بلوغ | د نورو په پرتله ډېر | | د ذهني بالغو خلکو ملګرتیا | |
| علمي کچه | | د پوهې کموالی | له علمي شخصیاتو استفاده کولی شم | |
| د اړیکو وړتیا | ښه وینا کوم | ښه لیکل نه شم کولای | زموږ په پوهنتون کې د وینا او مقالو سیالۍ کېږي، چې زما وړتیا ډېرولی شي | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د فکر ډول او فکري مکتب | هیڅ | | هیڅ | |
| لېوالتیا | له ښوونیزو چارو سره ډېره ده | له لوبو سره لږه لېوالتیا | | زما شاوخوا لوبو ته لاسرسی نشته |
| نوښتگرې وړتیاوې | | ډېرې زیاتې نه دي | | |
| د مسؤلیت احساس | تر کافي بریده تر سترگو کېږي | | | |
| ارادي قوت او پر ځان باور | | نسبتاً کم دی | | ملگری مې پېغورونه راکوي او ناهیلی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | کوي مې |
| زړورتیا | | کمه ده | | |
| انصاف خوښونه | شته | | | |
| د بریا لېوالتیا | | نسبتاً کمه ده | | |
| بُخل او سخاوت | | زه په خپله له مالي پلوه کمزوری یم، نو تر یوه بریده بخیل یم | زما مخته یو ښه شخصیت دی | |

په دې توګه د خپل شخصیت د شننې تر بشپړولو وروسته د خپل شخصیت مثبت اړخونه په تفصیل سره وارزوئ او د لا ښه کولو په اړه یې فکر وکړئ.

همداراز خپلې نیمګړتیاوې او منفي ټکي تحلیل کړئ او په سببونو یې د پوهېدو هڅه وکړئ. تر دې وروسته یې د اصلاح کولو هڅه

وکړئ. په دې برخه کې له مورو پلار، ښوونکو او ملګرو سره مشوره وکړئ.

د شخصیت جوړونې کوم فرصتونه چې لرئ، له هغو څخه پوره ګټه واخلئ او له کومو خطرونو سره چې مخ یاست، مناسب مخنیوی یې وکړئ. په دې طریقه خپل شخصیت رغولی شو.

همداراز که نور خلک ستاسو په اړه په ناسم تصور کې ښکېل وي، نو د دې انځور د ښه کولو لپاره عملي کوښښ وکړئ.

**ومن الله توفیق**

**پای**

**دا کتاب له رحماني کتابتون څخه ډانلوډ شوی . او هو د نورو غوره او نویو PDF کتابونو لپاره رحماني کتابتون در سره وڅارئ .**

**زموږ د ټلیګرام چینل لینک**
https://t.me/paktekawalafghan/7

**زموږ فیسبوک پاڼه**
PaktekawalAfghan

RAHMANI
LIBRARY
رحمــــــــاني کتابتون

# رحماني کتابتون

کانال عمومی

توضیحات

📚رحماني کتابتون : یو ادبي او علمي چینل دی ، چیرې چې ته کولی شې له هر ډول کتابونو، ناولونو، اسلامي اثارو، او ادبي لیکنو څخه برخمن شې.

🌱 رحماني کتابتون : د ځوان ذهنونو روزنتون .!
https://t.me/paktekawalafghan/7

t.me/paktekawalafghan

لینک دعوت

اعلان‌ها

فعال


Paktekawal Afghan
۵ هزار دنبال‌کننده‌ها • هزار دنبال می‌کنید
ملګرو زموږ د ټلیګرام چینل هم
در سره جوین کړئ .! مننه ❤️👇🏽
https://t.me/paktekawalafghan/7
افزودن به داستان
داشبورد حرفه‌ای
تبلیغات
پست‌ها
درباره
ویدیو
عکس‌ها
رویدادها

په دې کتاب کې؛

(د شخصیت جوړونې، د خوښې پرمهال شکر، له سختو حالاتو سره د مبارزې، له هغو څخه د راوتلو تخنیکونه او طریقې، صبر او زغم، د خبرو کولو مهارت، د مسؤلیت احساس، طبیعي لېوالتیا، بُخل او سخاوت، ځیرکتیا، علمي کچه، د نوښت وړتیاوې، مینه او کرکه، حرص او قناعت، وېره او دېته ورته ګټور موضوعات) ځېړل شوي او ګټورې لارښوونې او پېغامونه پکې بیان شوي دي.

دا کتاب له رحماني کتابتون څخه ډانلوډ شوی . او هو د نورو غوره او نويو PDF کتابونو لپاره رحماني کتابتون ته سره وڅارئ .

زموږ د ټلیګرام چینل لینک
https://t.me/paktekawalafghan/7

زموږ فیسبوک پاڼه
PaktekawalAfghan

سلام
Salam
خپرندویه ټولنه

چاپچارې

سلام خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه - جلال آباد
Salam Publications سلام خپرندویه ټولنه